عبدالباري جهاني
۲۰۱۹/۰۸/۰۸

# د انګریزي استعمار او روسي امپراطورۍ په مقابل کي

## د امیر شیرعلي خان او سید جمال الدین افغاني دریځونه

" د افغانستان په څیر نیم وحشي دولتونو سره موږ د هغو بین المللي قوانینو او مقرراتو رعایت کولو ته مجبور نه یو چي په نړۍ کي د متمدنو هیوادونو ترمنځ موجود دي " سر جیمز ستیفن دلندن تایمز ورځپاڼي ته.
له دې یوې جملې څخه موږ قضاوت کولای سو چي غربي، یا په اصطلاح، متمدن هیوادونه د دریمي نړۍ خلکو ته په څه سترګه ګوري. دا د برتانیې د مستعمراتو لپاره د خارجه وزیر د مرستیال نظر دی چي د نولسمي پېړۍ په نیمایي کي یې ورکړی او جورج ډاګلاس کیمبل، چي په ډوک آف ارګایل مشهور وو، د شرق مسأله، په نوم خپل کتاب ۲۷۵ پاڼه کي راوړی دی.
کله چي د انګلستان په پارلمان کي دا خبره طرح سوه چي ایا برتانیې دا حق درلود چي د افغانستان په څېر یوه مستقل هیواد د امیر په مقابل کي جنګ اعلان کړي او په زور یې ویرزوي نو د پارلمان یوه غړي په زغرده وویل چي بین المللي قوانین د شېرعلي په څېر یوه اسیایی واکمن په حق کي نه تطبیقیږي. هغه دافغانستان یو قانوني واکمن وو... مګر زموږ لپاره علمي سرحد په کار وو، او داسي فیصله وسوه چي د شېرعلي پاچهي ښایي تباه سي، ځکه چي هغه صرف یو اسیایی واکمن وو او موږ یو مسیحي متمدن هیواد. اسلام یورپ اینډ ایمپایر ص ۳۷۵ ( ګواکي مسیحي متمدن هیواد د اسیایی هیوادونو او حکومتونو د ورانولو او تباه کولو شرعي او قانوني جواز یا په اصطلاح لایسنس لري ج)
ما( جهاني) په کال ۱۹۸۲ کي په چارسده کي د خان عبدالغفار خان په کور کي د پښتنو له هغه ستر مشر سره د محمد حسن اولسمل د اخبار افغان مجاهد د شپږمي ګڼي لپاره مرکه کوله او هغه د مرکي په ترڅ کي راته وویل چي بچو! لوبه د سوپر پاور ده او پښتانه پکي دل شول.
له هغې نېټي تر اوسه پوري څه باندي اووه دیرش کاله تېر سوي دي او لوبه هغسي روانه ده. طبیعي خبره ده چي دا لوبه نه افغانانو پیل کړې، نه یې روانه کړې او نه یې ختمولای سي. لوبه پردۍ ده، خو میدان یې، د دوی د خوښي او ارادې په خلاف، د دوی انګړ انتخاب سوی دی. په حقیقت کي، لویو غربي هیوادونو او قدرتونو هیڅ وخت شخصي دښمني نه سره درلوده او که جګړې ته سره وتلي دي نو هغه به د کمزورو هیوادونو د خاورو او منابعو د ویشلو پر سروه. روسیه او برتانیه په نولسمه پېړۍ کي، په اسیا کي، دوه لوی رقیب هیوادونه ګڼل کېدل.
دواړه په خپلو سیمو کي په فتوحاتو او د مظلومو اولسونو په قتلولو او لوټلو لګیاول. دواړه په دې پوهېدل چي هیڅ وخت به مخامخ جنګ ته سره ونه درېږي خو د خپلو خلکو او د سیمي د اولسونو د غولولو لپاره یې له یوه بل څخه بلاوي جوړي کړي وې. میخایل ګریګورویوف، چي شل کاله په غربي سایبیریا کي ګورنر وو، د نولسمي پېړۍ د نیمایي په کلونو کي ماسکو ګزیت مجلې ته لیکلي وه چي " انګلینډ یوازینی هیواد دی چي د روسانو په مقابل کي له بخارایانو سره جنګي مرستي کولای سي. نو دا ډیر احتمال لري چي د بخارا امیر به په یوه فرصت کي، زموږ په مقابل کي، له انګریزانو څخه مرسته وغواړي. زموږ وروستني اطلاعات ښیي چي د بخارا امیر خپل استازي کلکتې ته لیږلي دي او له انګریزانو څخه یې د مرستي غوښتنه کړې ده او ژمنه یې ورسره کړې ده چي د دې مرستي په بدل کي د هر څه ورکولو ته تیار دي...دا امکانه ده چي انګریزان به د بخارا امیر ته د پټو مرستو وعده ورکړي، خو که احتمالاً دا کار وکړي نو بیا موږ هم کولای سو چي د هند په سر حدي سیمو کي ستونزي ورته جوړي کړو... خو دا خبره ده چي که چیري برتانیه د بخارا سره د مرستي لپاره خپلي قواوي را لیږي نو دا خو به د افغانستان د لاري ورته را استوي او زه ګومان نه کوم چي برتانیې به په افغانستان کي د کال ۱۸۴۲ د ماتي ترخه درسونه هیر کړي وي او بیا به افغانستان ته د خپلو قواوو لیږلو ته زړه ښه کړي. که چیري بیا دا اقدام کوي نو زه خو وایم چي اووه خله به غور وربادي کوي. مګر که بخارا د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

خیوا او خوقند سره لاس یو کړي او د روسي قواوو پر ضد اسلامي جنګ پیل کړي نو پرته له دې چې خپل ښارونه به تباه کي او خپل استقلال به له لاسه ورکړي او د روسیې امپراطوري به یې له ستوني تېرکړي نورهیڅ ګټه نه ورته کوي . PP 270-271 Rawlinson
البته دا لیکنه د برتانیې داسي سیاستمدار را نقلوي چې په وچ زور په خپل اولس کې پر برتانوي هند باندي د روسیې د امپراطورۍ د حملې وېره خلقوي او د خپل پورتني کتاب په مقدمه کې لیکي چې " زما پخپله عقیده، چې په ایران، افغانستان او هند کې د ځلوېښتو کالو خدمت په نتیجه کې ورته رسېدلی یم، او دا عقیده مې ځو ځو ځله اظهار کړې او د خلکو تر غوږونو مې رسولې ده، او سر جوستین شیل چې لس کاله په تهران کې وو، زما د عقیدې ملاتړ کوي، چې که روسیه د هرات پر لور پرمختګ کوي نو برتانیه د هند د خوندي کولو لپاره بیا د لویدیځ افغانستان اشغالولو ته مجبوره ده. مګر زه ګومان نه کوم چې یا په هند او یا په اینګلینډ کې دې مسول پوځي مقامات زما دغه عقیده را سره ومني" هغه کتاب مقدمه
روسیې په نولسمه پېړۍ کې هیڅ وخت د برتانوي هند د اشغالولو او په اصطلاح تودو اوبو ته د ځان رسولو خیال نه درلود او که یې درلود نو دا وس او پوځي او مالي قدرت ورسره نه وو؛ او برتانیې دوه ځله په لوی لاس د افغانستان دمظلوم او سوله غوښتونکو اولسونو مشران د برتانیې پر ضد د روسیې سره په دوستۍ تورن کړل او د افغانستان د لارې یې پر هند باندې د روسیې د یرغل او تودو اوبو ته د ځان رسولو د وهمونو قرباني کړل.
په روسي ترکستان کې د روسي قواوو یوه لوی قوماندان جنرال سکوبیلوف د برتانیې د خارجه وزارت د مامور او ژورنالیسټ چارلس ماروین د دې سوال په جواب کې چې آیا روسیې پر هند باندې د حملې خیال درلود کنه وویل چې " زه فکر نه کوم دا به د روسیې لپاره ممکنه وه. زه نه پوهېږم چې د برتانیې پوځي مقامات د پوځي او بحریه قوې په مجلو کې دا خبره څرنګه خپروي. زه به هیڅ وخت د داسي قواوو قوماندانې غوره نه کړم. دا عملیات ډېر زیات مشکلات لري. موږ د اخال د لاندې کولو لپاره یوازې پنځه زره پوځیان درلودل او د هغوی لپاره مو شلو زرو اوښانو ته ضرورت وو. موږ د دې اوښانو د برابرولو لپاره اورینبرګ، خیوا، بخارا او منګیشلاک ته سړي واستول، او ډېرې سختې ستونزې مو وګاللې. موږ پر هند باندې د حملې لپاره یو سل او پنځوس زرو عسکرو ته ضرورت لرو. شپېته زره قوه باید هند ته ننوزي او نیوي زره باید ارتباطات وساتي. اوس نو که پنځه زره عسکر شل زرو اوښانو ته ضرورت لري د یو سل او پنځوس زرو عسکرو په باره کې پخپله فکر وکړه او موږ به د دې قوې د حمل و نقل لپاره اوښان او څاروي له کومه کوو؟ موږ به ډېرو زیاتو اکمالاتو ته اړتیا ولرو؛ ځکه چې افغانستان یو غریب هیواد دی. هغوی زموږ شپېته زره عسکر نه سي اکمالولای؛ نو موږ به هم ستاسي او هم له افغانانو سره جګړه کوو"
کله چې ماروین جنرال سکوبیلوف ته وویل چې تاسي ښایي افغانانو ته رشوتونه او پیسې ورکړی او زموږ پر ضد یې را وپاروی نو هغه وویل چې" روسان به چا ته رشوت ورکړي. که روسان یوه سردار ته رشوت ورکړي تاسي به یې بل سردار ته ورکړی. که روسان یو روبل مصرف کړي تاسي به دوه مصرف کړی او که روسان دوه روبله ولګوي تاسي به پنځه ولګوی، او موږ ته به په دې کار کې شکست راکړی. افغانان به زموږ سره په هغه شکل جګړه وکړي لکه ستاسي سره چې یې وکړه"Marvin ص ص ۱۰۴-۱۰۳
تر څو چې په نړۍ کې زور او زورور موجود وي عدالت نه سي ټینګېدلای او د کمزورو هیوادونو پر حقوقو او خاوره به تیری کیږي؛ خو هغه دوه ځله، ظالمانه او په مطلق ډول بې دلیله، تیری به چې انګریزانو پر افغانستان باندې وکړ په نړۍ کې ډېر لږ مثال ولري. انګرېزانو ظاهراً په دې پلمه چې روسان د ایران، یا د افغانستان د لارې او یا د دواړو هیوادونو سره یو ځای د هرات د لارې پر هند باندې حمله کوي، د افغانستان اشغال ته مخه کړه، البته دواړه ځله په تور مخ ووتل. ډوک آف ارګایل په خپل کتاب کې لیکي: " موږ د داسي خلکو په خپلواکې کې مداخله وکړه چې د مداخلې کولو هیڅ حق مو نه درلود، او لا د هغوی د خپلواکۍ ساتل زموږ په ګټه وه. زموږ د مداخلې هدف په هغه اندازه چې غیرعادلانه وو په هغه اندازه احمقانه وو. موږ له یوه زړه ور او لایق امیر( امیر دوست محمدخان) سره مخالفت وکړ او د هغه پر ځای مو یو کمزوری سړی( شاه شجاع) کښېناوه چې موږ په دې پوهېدلو چې د خپلو خلکو او هیواد سره خیانت کوي. موږ د دغه ناوړه هدف د تر لاسه کولو لپاره د هند د خلکو شته مني ولګوله. د هند د شته منی څخه څه باندي شل میلیونه روپۍ لومړی د جنګ په پیل کولو او بیا له هغې فاجعې څخه په راوتلو ولګېدې. دا ممکنه ده چې که مو پر خپلې سرزورۍ باندي ټینګار کړی وای او ډېر زیات پوځي عملیات مو کړي وای نو افغانستان به مو فتح کړی وای. مګر نو هغه لګښتونه چې زموږ په خپل سرحد کې د یوه هیواد په نیولو لګېدل او هغه پرله پسې ماتې چې موږ یې په شرمونو شرمولو هم په هند او هم په انګلینډ کې هر سیاستوال ته څرګندې وې. موږ په بشپړ ډول پر خپلې غلطۍ او اشتباه باندې اعتراف وکړ او نړۍ زموږ پر اعتراف آفرین وواېه.موږ ژر په دې پوه سوو چې د هغه زړه ور سړي سره دوستي پیل کړو چې د یو څه وخت لپاره مو له تخته محروم کړی او د هیواده ایستلی وو او هغه د خپل ژوند تر پایه پوري زموږ ټینګ او وفادار ملګری سو" Duke of Argyllص ص ۲۲۲-۲۲۱


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځېر و لولئ

د افغان او انګلیس دوهم جنګ، یا بهتر ووایو پر افغانستان باندي د انګریزانو دوهم بی دلیله او ظالمانه یرغل، د همدغو بی انصافیو او بي عدالتیو ادامه ده؛ البته په لومړي جنګ کي مقصر، تر ډیره ځایه، یوازي برتانیه او په دوهم جنګ کي تزاري روسیي او برتانیي دواړو برخه درلوده.
لارډ رابرټس لیکي دا یو عجیب تصادف دی چي د افغان او انګلیس په دواړو جنګونو کي په کابل کي د روسي افسرانو حضور د دواړو هیوادونو ( برتانیي او افغانستان) د جنګ سبب سو.Roberts ص ۳۳۹
بل ځای لیکي " زه ویلای سم چي امیرشیرعلي سره له هغه چي د خپلي پاچهی په سر کي یي زموږ څخه ډیري زیاتي ګیلي درلودلي، له هغو مرستو څخه ډیر راضی او مننذوی وو چي وروسته لارډ لارنس ورسره وکړی، او وروسته بیا لارډ مایو د یوه پاچا په حیث هرکلی ورته ویلی وو. وروسته په کال ۱۸۷۳ کي دی ته حاضر وو چي زموږ سره د دوستی یو تړون لاسلیک کړي خو په دي شرط چي د ده کشر زوی سردار عبدالله جان مو د ولیعهد په حیث منلی او د روسانو د یرغل په صورت کي مو د مستقیمي مرستي وعده ورکړي وای. څرنګه چي موږ د هغه دا شرایط ورسره ونه منل او په سیستان کي د سرحد د ټاکلو په مسله کي مو د هغه د آرزو خلاف عمل وکړ نو له امیرشیرعلي خان څخه مو په لوی لاس دښمن جوړ کړ او ده هم د خپل پلار په څیر زموږ څخه مخ واړاوه او د روسانو دوستی ته یي مخه کړه" هغه کتاب ص ص ۳۴۱-۳۴۰
امیر دوست محمد خان په جلال آباد کي وو چي پر فراه باندي د هرات د حاکم سلطان احمد خان( د امیر دوست محمدخان زوم او وراره) له حملي او د فراه د ښار د نیولو څخه خبر سو. امیر خپل زوی شیرعلي خان د یوه قوي پوځ سره د فراه خواته واستاوه. شیرعلي خان فراه ونیوله او امیر دوست محمد خان د ۱۸۶۱ کال د مارچ په میاشت کي پخپله د هرات پر لور وخوځید. د هرات ښار یي د هماغه کال د اګست په میاشت کي محاصره کړ. د هرات د ښار محاصري لس میاشتي دوام وکړ. د محاصري په جریان کي د امیردوست محمد خان لور، چي د سردار سلطان احمد خان میرمن وه، وفات سوه، دوي میاشتي وروسته پخپله سلطان احمدخان هم وفات سو. د هغه زامنو شهنواز خان او سکندرخان د وي میاشتي نور هم مقاومت وکړ او بالاخره د هرات ښارد ۱۸۶۲ کال د مي پر اووه ویشتمه تسلیم سو. امیردوست محمد خان دیارلس ورځي وروسته، د جون پر نهمه، د هرات په ښار کي، وفات سو، او د خواجه عبدالله انصاري په زیارت کي خاورو ته وسپارل سو.
د امیر دوست محمد خان د وصیت سره سم، د هغه ولیعهد شیرعلي خان، څلور ورځي وروسته، په هرات کي خپل سلطنت په داسي حال کي اعلان کړ چي تقریبا ټول ورونه، په تیره بیا د هغه مشران ورونه، محمداعظم خان او محمدافضل خان یي مخالف ول. لکه څرنګه چي مخکي یي پیش بیني کیدله، د امیر دوست محمد خان له وفات څخه وروسته د ورونو ترمنځ داخلي جنګونه پیل سول. د دي جنګونو په نتیجه کي د امیر شیرعلي خان سکه ورورمحمدامین خان او د امیر مشر زوی محمدعلي خان د قلات په جنګ کي ووژل سول. لږ وروسته محمداعظم خان او د محمدافضل خان زوی سردار عبدالرحمن خان کابل ونیوی. څه باندي دوه کاله وروسته امیرشیرعلي خان، د خپل زوی سردار محمدیعقوب خان په مرسته، لومړی کندهار او وروسته کابل ونیوی. سردارعبدالرحمن خان روسیي ته وتښتیدی، امیرمحمداعظم خان په نیشاپور کي د هیضه په مرض وفات سو او په دي توګه د امیر شیرعلي خان د امارت دوهمه دوره پیل سوه.
په کال ۱۸۶۷ کي، چي امیرشیرعلي خان په قلات کي د سردار عبدالرحمن خان په مقابل کي ماته وخوړه او قدرت د امیرمحمدافضل خان لاسته ولوېدی نو د برتانوي هند ویسرا سر جان لارنس هغه، د کابل د امیر په حیث، په رسمیت وپېژاند او نور یي د هیڅ ډول مرستي ژمنه ورسره ونه کړه. امیرمحمد افضل خان هم د سوات هغو ملکانو ته چي ده ته د امارت د مبارکی ویلو لپاره کابل ته راغلي ول د انګریزانو په مقابل کي د جهاد بلنه ورکړه او له هغوی سره یي د هر ډول مرستي ژمنه وکړه. کله چي امیرشیرعلي خان، د غزني په جنګ کي، د سردار عبدالرحمن خان په مقابل کي بله ماته وخوړه؛ او په نتیجه کي کندهار هم د امیرمحمدافضل خان لاسته ورغی بیا هم د هند ویسرا هغه د ټول افغانستان د امیر په حیث نه بلکه د کابل او کندهار د امیر په حیث په رسمیت وپیژاند؛ او د مرستو ژمنه یي هم ورسره ونه کړه. امیرمحمد افضل خان د انګریزانو له مرستي څخه زړه ماتی سو او خپل یو هیات یي په ترکستان کي د روسانو کمپ ته واستاوه او له هغوی سره یي د سیاسي او تجارتي اړیکو د ټینګولو غوښتنه وکړه؛ خو عمر وفا ورسره ونه کړه او تقریبا دوي میاشتي وروسته وفات سو. Roberts ص ص ۳۰۶-۳۰۷
دغه راز، کله چي امیرشیرعلي خان، د خپلو ورونو سره د جنګونو په وخت کي، له انګریزانو څخه د مرستي غوښتنه وکړه، برتانوي هند د هغه غوښتنه ونه منله او د افغانستان په داخلي جنګونو کي یي د بیطرفی اظهار وکړ. هغه مجبور سو چي د ایران څخه مرسته وغواړي او خپل زوی سردار محمد یعقوب خان یي د همدغه مقصد لپاره د ایران پاچا ته واستاوه خو هغه هم د انګریزانو له وېري د شیرعلي خان سره مرسته ونه کړه او شیرعلي خان، سره له هغه چي، د دوهم ځل پاچا کیدلو څخه وروسته یي، د برتانوي هند سره دوستانه اړیکي ساتل، د تل لپاره پر انګریزانو باندي بی اعتماده سو. که څه هم چي په کال ۱۸۶۸ کي یي، د برتانوي هند سره د دوستانه اړیکو د ټینګولو لپاره، هند ته سفر وکړ مګر د برتانوي هند له حکومت څخه یي خپل نفرت په څرګنده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

ښکاره کاوه او دا یې څو ځلې ویلې وه چې" انګریزان پرته له خپلو ګټو بل په هیڅ شي کې رړی نه وهي. هر څوک چې په هر وخت کې زیات قدرت ولري دوی د هغه ملګري کیږي. زه به هیڅکله د انګریزانو سره د دوستانه اړیکو د ټینګولو او پر هغوی باندې د اعتماد کولو لپاره خپل ارزښتناک عمر ضایع نه کړم، او له نورو حکومتونو سره به دوستي ټینګه کړم Rawlinson ص ۲۹۵
البته، امیرشیرعلي خان د خپل ختیځ ګاونډي په زورزیاتي او د دسیسو په قوت ښه خبر وو او نه یې غوښتل چې خپل ځان ورسره مقابل کړي او خبره د جنګ پولې ته ورسوي. د قدرت د نیولو سره سم یې د اصلاحاتو د پیل کولو تر څنګ د برتانوي هند سره د اړیکو د بهترولو خواته توجه واړوله او په کال ۱۸۶۸ کې یې په امباله کې د هند له ویسرا لارډ مایو سره وکتل. د هند وایسرا د امیر ښه عزت وکړ خو کله چې امیر له هغه څخه وغوښتل چې برتانوي هند دې امیر او د هغه وارثان د افغانستان د قانوني پاچاهانو په حیث په رسمیت وپیژني، برتانوي هند دې له افغانستان سره دفاعي تړون لاسلیک کړي چې د هغه په اساس به امیر د انګریزانو د دوستانو دوست او د دښمنانو دښمن وي او دغه راز باید د برتانوي هند حکومت د کابل حکومت ته، په منظم ډول، کلنی سبسیډي( مالي مرسته) ورکوي؛ نو د برتانوي هند حکومت د هغه یوه غوښتنه هم ونه ومنله او هغه ته یې وویل چې د هند حکومت دې ته تیار دی چې د امیر دښمنان له هغه سره له مخالفتونو او حملو څخه را وګرځوي او د ده تود ملاتړ وکړي او په تجارتي چارو کې مرسته ورسره وکړي. امیر شېرعلي خان په دې سفر کې له هند څخه شپېته زره پونډه مرسته ترلاسه کړه. Roberts ص ص ۳۰۸-۳۰۷
امیر شیرعلی خان او د هغه وزیر سید نور محمد شاه تر پایه پر دې خبرې ټینګارکاوه چې برتانیه دې د ده او د ده د کورنۍ قدرت تضمین کړي او د افغانستان د مشروع واکدارانو په حیث دې هغوی په رسمیت وپیژني. امیر د خارجي یرغل په باب هیڅ اندېښنه نه درلوده. جورج کیمبل ( ډوک آف ارګایل) لیکي چې لارډ مایو په خپل خصوصي لیک کې ماته ولیکل چې امیر د امبالې په کنفرانس کې د روسیې نامه ته ښځي اشاره قدر هم ونه کړه؛ نو یا خو دی په خپلو داخلي مشکلاتو کې سخت ډوب دی او یا د هغوی په پرمختګونو او یرغلونو خبر نه دی او کله چې موږ د خپلو خبرو په ترڅ کې روسیې ته اشاره کړې ده دی معمولا وایي چې تاسي به تر ښځي ډېره وخته پورې په افغانستان کې د روسانو په باب څه وانه وری» Duke Argylle of ص ص ۲۶۲-۲۶۱
لارډ مایو د امبالې په کنفرانس کې یوه څرګنده ژمنه وکړه او هغه دا چې د امیر په ښارونو کې به هیڅ وخت اروپایي مامورین د استازو په حیث نه ټاکل کیږي. هغه کتاب ص ۲۶۴
له بلې خوا د افغانستان شمالي ګاونډي روسیې هم، چې پخپله یې پر خپلو ظلمونو او قتل عامونو باندې اعتراف کاوه، د مرکزي اسیا هیوادونه او ښارونه یو په بل پسې لاندې کول او ځان یې د آمو د سیند غاړې ته رسولی وو. د ترکمنستان په سیمه کې د روسیې د قواوو عمومي قوماندان جنرال سکو بیلوف د برتانیې د خارجه وزارت مامور او ژورنالیست چارلس مارووین ته په یوه مرکه کې ویلي وه « ته پوهیږې ښاغلی مارووین، او دا زما خبرې باید خپرې نه کړې ځکه چې د سولې تولنه به ما وحشي وبولي، هغه دا چې زه په آسیایي هیوادونو کې یو پرنسیپ لرم چې په آسیا کې چې هر څونه زیات خلک قتل کړې هغوی زیات وېرېږي او تر ډېره وخته پورې آرام پاتیږي. موږ په ګوک تیپه کې شل زر ترکمنان قتل کړل او د هغو حملو څخه ژوندي پاته سوي کسان به تر ډېره وخته پورې دا پیښې له یاده ونه باسي» Marvin ص ص ۹۹-۹۸
د ترکمنستان ګورنرجنرال کوفمان امیرشیرعلي خان ته د ۱۸۷۰ د اپریل په میاشت کې خپل لومړی لیک واستاوه، او وروسته یې خپله د لیکونو هغه سلسله پیل کړه چې د سر پرسي سایکس په قول یې د امیر شیرعلي خان د سقوط لپاره زمینه برابره کړه. جنرال کوفمان ، غوښتل د خپلو دغو پرله پسې لیکونو په وسیله، که نور هیڅ نه وي نو، د برتانوي هند او امیر شیر علي خان د حکومت ترمنځ بدبیني ایجاد کړي، او کوښښ وکړي چې روسیه د افغانستان په څیر یوه حساس ځای کې د پښې د ایښودلو ځای پیدا کړي. هغه په خپل لومړي لیک کې امیر ته اطلاع ورکړه چې سردار عبدالرحمن خان بخاراته رسیدلی دی، او د روسیې حکومت یوازې د میلمه پالنې له مخې د هغه هرکلی کړی دی او روسیه هیڅ وخت د افغانستان په داخلي چارو کې د مداخلې کولو نیت نه لري. شیرعلي خان دې لیک وارخطا کړ. د روسیې د ګورنر جنرال په هدف پوه نه سو او د هغه لیک یې کټ مټ وایسرا ته واستاوه. وایسرا امیر شیرعلي خان ته مشوره ورکړه چې د کوفمان د لیک جواب ورکړي او د هغه د ښه نیت او اطمینان له کبله مننه ورڅخه وکړي. امیر کوفمان ته لیک واستاوه او دا یې هم ورته ولیکل چې وایسرا یې له موضوع څخه خبر کړی دی. دوې میاشتې وروسته جنرال کوفمان امیر ته بل لیک واستاوه او د دې لیکونو سلسلې دوه درې کاله دوام وکړ. Sykes ص ص ۹۸-۹۷
امیر، د خپل قدرت د لومړیو شپو ورځو څخه، د پاڼ او پرانګ ترمنځ وو. له برتانیې څخه چې یې د مرستو غوښتنه کړې وه او بیا بیا یې هیله ورڅخه کړې وه، هغوی مناسب جواب نه ورکاوه. د روسیې څخه، چې پرله پسې یې د مسلمانانو مځکې لاندې کولې او د وحشیانه قتل عامونو خبرونه یې د امیر تر غوږه رسېدل، د دوستی لاسونه ورته راغځېدل. البته امیر د دواړو ګاونډیانو ترمنځ برتانوي هند ته ترجیح ورکوله خو هغه حکومت د ده غوښتنو ته هیڅ وخت مثبت جواب ورنه کړ. سرپرسي سایکس لیکي چې که چیرې د امیرشیرعلي حان په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

برخه کي د ویسرالارډ نارت بروک پالیسي منل سوې وای او هغه په دې پوه سوی وای چي موږ رینټوني مرسته ورسره کوو نو موږ به د افغانستان دوستي له لاسه نه وای ورکړې. په حقیقت کي موږ هغه مجبور کړ چي د روسیي پر ملاتړ تکیه وکړي. هغه کتاب ص ۱۰۰
جنرال رابرټس لیکي" ما له یعقوب خان سره څو په زړه پوري مجلسونه وکړل او کله چي مي زموږ سره د امیرشیرعلي خان د اړیکو د شلولو د علت په باب پوښتنه ورڅخه وکړه نو هغه را ته وویل چي که څه هم چي ویسرالارډ مایو له امیر سره هغه څه ونه کړل چي امیر یې هیله درلوده مګر سره له هغه هم په لاسته راوړو مرستو قانع وو؛ خو کله چي په کال ۱۸۷۳ کي سید نور محمدشاه له سیملې څخه راستون سو نو امیر له انګریزانو څخه سخت خپه او زړه ماتی سو او روسانو ته یې مخ ور واړاوه او له هغوی سره یې مکاتبو ته دوام ورکړ...
او کله چي مي د امیراو روسانو ترمنځ د لیکونو په باره کي پوښتنه ورڅخه وکړه ده را ته وویل چي، کله یې د انګریزي هیات سره د کتلو لپاره، د ګندمک پر لور حرکت وکړ، هغه لیکونه یې ټول وسوځول" Roberts ص ۴۲۱
برتانوي استعمار او روسي امپراطوری دواړو، له افغانستان سره، په یوه سویه، نامردي وکړه او د افغانستان بې ګناه، مظلوم او له هر څه بیخبره اولسونه یې، په لوی لاس، د جنګ اورته وغورځول. برتانوي استعمار، د افغان او انګلیس د لومړي جنګ په څېر، له وچي سرزوری څخه کار واخیست او روسي امپراطوری د جنګ د پیل کیدلو تر پولي پوري له افغانستان سره، د برتانیي د یرغل په صورت کي، د مرستو ژمني کولي او د انګریزانو او افغانستان تر منځ د جنګ پر سر حد باندي له خپلو ټولو ژمنو څخه پر شا سوه.
د برتانوي هند ګورنرجنرال لارډ مایو د ۱۸۷۲ کال د فبروري په میاشت کي د انډیمان په ټاپوګانو کي، چي د هند او برما ترمنځ پراته دي، او د برتانوي هند مقاماتو زیاتره سیاسي بندیان ن هلته ساتل، یوه پښتانه بندي په چاړه وواهه او مړ یې کړ. د لارډ مایو پر ځای لارډ نارت بروک وټاکل سو چي د افغانستان په برخه کی یې نسبتاً نرم دریځ درلود. د لارډ نارت بروک د حکومت په لومړیو شپو ورځو کي د افغانستان او ایران ترمنځ د سیستان پوله، د امیرشیرعلي خان د ټولو اعتراضونو او نارضایت سره سره، وټاکله ه سوه. نارت بروک امیر ته ولیکل چي د پولي د کارونو د ختمېدلو سره سم به د کابل حکومت ته پنځه لکه کلداري ورکړي؛ او ضمنا یي غوښتنه ورڅخه وکړه چي د برتانیي یو استازی به کابل ته د خبرو لپاره ورسي. امیر په کابل کي د برتانوي استازي پر ځای د کابل څخه د خپل استازي لیږل غوره وبلل او خپل وزیر سید نورمحمدشاه یي د مذاکراتو لپاره سیملې ته واستاوه.
د سید نورمحمدشاه مذاکرات تر ډیره ځایه بریالي وه. د هند حکومت ژمنه وکړه چي د افغانستان د داخلي ازادی درناوی به کوي. که څه هم چي د روسیي د لوري کوم جدي خطر نه لیده کیږي، خو که د هغه پر خاوره باندي تیری وسي نو برتانیه به مرسته ورسره کوي؛ خو په دې شرط چي امیر، د برتانیي له حکومت سره د مشورې پرته، له هیڅ خارجي هیواد سره اړیکي ټینګ نه کړي. لارډ نارت بروک پیشنهاد وکړ چي د افغانستان په ځینو ښارونو کي به د برتانیي استازي مقرریږي خو سید نور محمدشاه ورته وویل چي په دې برخه کي یې د امیر څخه هدایت نه دی اخیستی. هغه ته وویل سول چي پر هغو پنځو لکو روپیو برسیره به چي تیر کال ژمنه ورسره سوې وه نوري پنځه لکه روپۍ په هم په سیستان کي د خاوري د لاسه ورکولو په بدل کي ورکړي.
امیر شېرعلی خان د سیملې د مذاکراتو نتیجي خواشینی کړ. وایسرا ته یې داسي جواب واستاوه چي د هغه ناخوښي ورڅخه څرګندېدله. امیر که څه هم چي وسلې ومنلې خو هغه لس لکه روپۍ یې چي د سیستان د پولي د ټاکل کېدلو په بدل کي ورکړه سوې وې وانه خیستلې او د پېښور په خزانه کي یې پرېښودلې. کرنل ولنټین بېکر ته یې، چي د مرکزي اسیا له لاري یې هند ته سفر کاوه، په افغانستان کي د تېرېدلو اجازه ورنه کړه؛ او څو میاشتي وروسته یې سرډاګلاس فورسیت او ورسره هیات ته هم اجازه ورنه کړه چي د افغانستان د لاري هند ته سفر وکړي. Roberts ص ۳۲۳
د ۱۸۷۵ کال د جنوري پر دوهمه د هند دپاره د برتانیي د دولت وزیر لارډ سالیزبوري صدراعظم ډیزرایيلی ته پیشنهاد وکړ چي د افغانستان څخه د سمو اطلاعاتو د نه رسېدلو له امله ستونزي لري او چي په سیمه کي څه پیښیږي نو یوازي په کابل کي د یوه مسلمان نماینده له لاري اطلاعات ترلاسه کوي؛ او هغه هم هغه څه لیکي چي امیر ورته وایي. لارډ سالیزبوري په دې عقیده وو چي په افغانستان کي باید حتما انګریزی هیات موجود وي. Sykes ص ۱۰۱
سالیزبوري په دې عقیده وو چي روسان بالاخره د افغانستان د نیولو او پر هند باندي د یرغل کولو خیال لري او برتانیه باید د هغوی ټولو حرکتونو ته متوجه او پیش بینه وي. خو وایسرا نارت بروک په دې باب هر ډول اطلاعات راغونډ کړي ول او د خپلو ټولو مهمو سلاکارانو او افسرانو سر ه تر سلامشورو وروسته یې د ۱۸۷۵ کال د جون پر اوومه د برتانیي حکومت ته یو لیک واستاوه او په هغه کي یې د خپلو ټولو اطلاعاتو نتیجه ولیکله. نارت بروک ولیکل چي دا په هیڅ توګه هوښیاره پالیسي نه ده چي پر امیر باندي انګریزی هیات تحمیل کړو. نارت بروک او د هغه مشورتي هیات دا خبره رد کړه چي د امیر له خوا د انګرېزي هیات نه منل دي د هغه د وفادارۍ نه درلودلو دلیل وګڼل سي. دوی ورته ولیکل چي سرریچارډ پالک، چي هم له سیدنورمحمد شاه سره ډیر نیژدې وو او هم د امیر او هم د افغانستان په باب بشپړ معلومات لري وایي چي داسي هیڅ شواهد نسته چي امیر شیرعلي خان دې د اروپایي حکومتونو څخه د مرستو ترلاسه کولو تلاښ کړی وي. دوی زیاته کړه چي که څه هم چي امیر په کال ۱۸۷۳ کي هغه څه چي غوښتل یې ترلاسه نه کړل خو مخالفت یې نه دی ښودلی او د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځېر و لولۍ

سیستان په مسله کي یې د برتانیي د حکمیت نتیجه له ټول نارضاییت سره قبوله کړه. دوی وویل چي لارډ مایو د امبالي په کنفرانس کي امیرشیرعلي ته اطمینان ورکړی وو چي په افغانستان کي به انګریزي استازي نه مقرروي؛ او که موږ اوس پر هغه باندي په دې مسله کي فشار واچوو هغه به مو په وچ زور د روسانو لمني ته غورځولی وي. دوی ولیکل چي په هرات کي د برتانیي د استازي مقررول دلیل او منطق لري او که چیري روسانو مرو اشغال کړه او د ترکمنانو ټوله سیمه یې ونیوله نو بیا به امیر ته اطمینان ورکړي چي د هغه د هیواد د ساتني لپاره هر راز مرستي ورسره کوي؛ خو په دې برخه کي هم باید یو نوی ټرون لاسلیک سي. دوی دا هم ولیکل چي د افغانستان په برخه کي باید د صبر او زغم څخه کار واخیستل سي؛ ډیره نرمه پالیسي دې غوره سي او د امیر د ستونزو د حلولو لپاره دې پوره مالي مرستي ورسره وسي. Duke of Argyll ص ص ۳۸۲-۳۸۱

د برتانیي حکومت لارډ نارت بروک ته ولیکل چي هغه باید له امیر سره په دوستانه لهجه خبري وکړي، خو پر امیر باندي به فشار اچوي چي که د هغه اقدام مخه ونیسي چي د برتانیي حکومت یې د ده د خپلواکۍ لپاره لازم بولي نو د خرابو عواقبو مسول به وي... لارډ نارت بروک په دې عقیده وو چي له امیر سره باید غولونکي خبري ونه سي او حقیقت ورته وویل سي. دوی ویل چي که چیري امیر د برتانیي غوښتني مني نو په عوض کي باید داسي امتیازات ورکړل سي چي هغه هم په دې پوه او قانع سي چي د برتانیي د ګټو د ساتلو په مقابل کي یې یو څه ترلاسه کړي هم دي. د برتانیي حکومت فکر کاوه چي وایسرا باید امیر ته ووایي چي د مرکزي اسیا روانو حالاتو دا لازمه کړې ده چي د برتانیي او د افغانستان د حکومتونو ترمنځ اړیکي تر اوسني حال زیاتره ټینګ او مستحکم سي... د ۱۸۷۶ کال د جنوري پر اته ویشتمه د برتانیي حکومت لارډ نارت بروک ته ولیکل چي د امیرشېرعلي خان سره داسي مذاکرات وکړي چي هغه وغولوي؛ خو نارت بروک وویل چي که موږ د کابل سره خبري کوو نو باید چي هر څه روښانه او سپین وي او د کابل حکومت زموږ د ماموریت په هدف سم پوه سي. لارډ نارت بروک یو ځل بیا ولیکل چي موږ باید په کال ۱۸۶۹ کي د کابل د امیر او لارډ مایو ترمنځ د امبالي موافقتنامه په نظر کي ونیسو. ده دغه راز وویل چي په دې باب هیڅ ډول اطلاع نه لري چي روسیه دي په افغانستان کي د مداخلي خیال ولري. ده دې خبري ته اشاره کړې وه چي امیر د ۱۸۷۵ کال تر سپټامبر پوري ټول کارونه د برتانیي د حکومت د غوښتنو سره سم کړي دي او حتی خپل خلک یې د روسیې په مقابل کي د خوقند د اولسونو د قیام سره د خواخوږۍ ښودلو څخه منع کړي دي. Duke ص ص ۳۹۱-۳۹۰

وایسرا نارت بروک پرامیر باندي فشار اچول نامناسب او د برتانیي د امپراطورۍ د ګټو خلاف وبلل. خو سالیزبوري پر خپلي خبري ټینګ ولاړ وو او نارت بروک په جواب کي ورته وویل چي که له امیر څخه وغوښتل سي چي په هرات کي د انګریزانو دفتر ته اجازه ورکړي نو هغه به سمستي دا سوال وکړي چي برتانیه باید پر افغانستان باندي د خارجي یرغل په صورت کي د بې قید او شرطه مرستي ژمنه وکړي. نارت بروک وویل حتی که په افغانستان کي برتانوي هیات ته اجازه ورکړه سي هغه به د امیر د جاسوسانو له خوا داسي محاصره وي چي له هیچا سره به تماس نه سي ټینګولای. کله چي سالیزبوري پر خپله خبره باندي نور هم ټینګار وکړ نو نارت بروک استعفی وکړه او سالیزبوري ته یې ولیکل: زه یقین لرم چي که دا ابتکار وکړې نو خپل ځان به په لوی لاس کمزوری کړې او په راتلونکي کي به د سختو سیاسي او اقتصادي ستونزو سره مخامخ سې. Sykes ص ص ۱۰۲-۱۰۱

د لارډنارت بروک پر ځای باندي لارډ لیټن، چي د افغانستان په برخه کي د سالیزبوري د توندروي پالیسی طرفدار وو، وټاکل سو. مخکي له هغه چي لارډ لیټن د هند پر لور حرکت وکړي، په برتانیه کي د رسیي سفیر کنټ شووالوف هغه ته د یوه غیر رسمي ملاقات او ساده لیډني کتني بلنه ورکړه. کنټ شووالوف په دغه ملاقات کي لارډ لیټن ته په روسي ترکستان کي د روسیي د ګورنرجنرال وان کوفمان یو لیک، چي په روسي لیکل سوی وو، په فرانسوي ترجمه کړ، چي د مرکزي اسیا په برخه کي د روسیي د امپراطورۍ نیتونه پکښي بیان سوي ول. په لیک کي راغلي وه، په داسي حال کي چي روسیي په مرکزي اسیا کي هیڅ داسي کار نه دی کړی چي د برتانیي ګټو ته کوم خطر پیښ کړي خو د برتانوي هند حکومت په مرکزي اسیا کي د روسیي د حکومت پر ضد مسلمانان لمسوي او یعقوب بیګ ته وسلي او مهمات لیږي. جنرال کوفمان وروسته لیکلي وه چي روسیه او برتانیه په مرکزي اسیا کي مشترکي ګټي او مشترک دښمن لري. هغه لیکلي وه چي" زموږ علاقه له تمدن سره ده او تمدن مو په ګټه دی او دښمن مو اسلام دی. یوازیني ریښتونی دښمن چي په هند کي د انګریزانو ګټي تهدیدوي هغه اسلام دی او نوري ستونزي هسي خیالي بلاوي دي؛ خو اسلام به تر ابده پوري د یوه غښتلي ریښتوني دښمن په حیث پاته وي. نو هوښیاره پالیسي به د اینګلیند او روسیي ترمنځ اتحاد وي. د برتانوي هند حکومت باید له روسیي سره د افغانستان او مرکزي اسیا د مسلمانانو د بې وسلو کولو او د دواړو قدرتونو ترمنځ د دغو سیمو د وېشلو په لاره کي مرسته وکړي. که دغه پالیسي غوره سي نو موږ به د مسلمانانو د بغاوتونو د ځپلو لپاره هر وخت یوه متحده مسیحي امپراطوري لرو. له بده مرغه چي برتانیې د دغه راز یوې ګټوري پالیسی د غوره کولو پر ځای د روسیي په قلمرو کي د مخالفو مسلمانانو د ملاتړ پالیسي غوره کړې او د روسیي د یرغل وېره یې په زړونو کي اچولې ده. که د کلکتې او تاشکند ترمنځ مستقیم تماس موجود وي نو دغه راز غلط فهمي به نه پېښېږي"

لارد لیټن د سفیر شووالوف د خبرو او جنرال کوفمان د لیک په جواب کي وویل " لکه څرنګه چي تا د سپینو خبرو غوښتنه وکړه نو زه به هم په زغرده درته ووایم چي برتانیه به په هیڅ صورت په افغانستان او خپلو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سرحدي سيمو کي د جنرال کوفمان نفوذ ونه مني؛ او نه به د مسلمانانو په مقابل کي د صليبي جګړي ملاتړ وکړي. ده زياته کړه چي موږ افغانستان او بلوچستان ته د برتانوي هند د برنډو يا دالانونو په سترګه ګورو. موږ به، د هر خارجي هيواد د يرغل په مقابل کي، له هغوی څخه، په خپل ټول قوت، دفاع وکړو. موږ به روسيې ته هيڅ وخت اجازه ورنه کړو چي د دغو سيمو په واکمنانو کي نفوذ وکړي" Balfour ص ص ۳۸-۳۷

لارډ ليټن له کونټ شووالوف سره تر دغي کتني وروسته سمدستي وليکل چي" د روسيې حکومت له اميرشيرعلي سره داسی مستقيم تماسونه ټينګ کړي دي چي هغه نه موږ ته اجازه راکړې او نه يې موږ حتی له وړاندي ورته پېشنهادولای سو؛ په داسي حال کي چي موږ هغه ته هر کال پيسې او وسلې ورکوو. د روسيې جنرال مخامخ وايي چي افغانستان بايد بې وسلو سي په داسي حال کي چي پخپله يې له اميرشيرعلي سره داسي تماسونه ټينګ کړي دي چي هر وخت يې زړه وغواړي له هغه سره ليده کاته کولای سي او د امير پر اطاعت باندي بشپړ باور لري. اينګلينډ په زغرده وايي چي هدف يې د افغانستان نيکمرغي او خپلواکي ده او د دغه هدف لپاره د هغه هيواد واکمن ته مالي مرستي ورکوي. خو بيا هم په افغانستان کي دونه نفوذ نه لري چي د هغه هيواد واکمن په دې قانع کړي چي په خپله خاوره کي د برتانيې استازو ته اجازه ورکړي او يا په خپله خاوره کي د برتانيې د افسرانو تېرېدل وزغمي. زه فکر نه کوم چي وضع تر دې هم مهمه او خطرناکه کېدلای سي" هغه کتاب ص ص ۴۰-۳۹

لارډ ليټن هند ته د رسېدلو څخه لږ وروسته د پېښور کميشنر سرريچارډ پالک سره وکتل او هغه ته يې هغه ليک ورکړ چي بايد د وايسرا د ياور ميجرخانان خان په لاس د کابل امير ته واستول سي. په مکتوب کي راغلي وه چي لارډ ليټن د هند د وايسرا په حيث مقرر سوی دی، د امير او وليعهد عبدالله جان د روغتيا پوښتنه يې کړې وه او دا يې ورته ليکلي وه چي وايسرا په خيال کي لري چي ډېر ژر سرليويس پيلي د خاص استازي په توګه کابل ته ولېږي؛ له هغه سره به ډاکټر بيليو او ميجر سينټ جان هم ملګري وي او تاسي ته به شخصا يو مکتوب در کړي چي په هغه کي به په هند کي زما د مقررۍ او د ملکې له خوا د هند د امپراطورۍ د لقب د غوره کولو اطلاع شامله وي. هغه کتاب ص ۵۳

امير ته په دغه وخت کي رپوټ رسېدلی وو چي د انګريزانو يو پوځ د بولان په دره کي را تيرسوی او غواړي چي کندهار ونيسي. که څه هم چي امير پخپله دا رپوټونه بې اساسه بللي ول مګر څرنګه چي انګريزانو په کوټه کي دايمي نمايندګي پرانيستلې او هغه ښار يې په ريښتيا هم اشغال کړی وو نو له امير سره دا انديښنه پيدا سوه چي د کوټي د ښار اشغال د کندهار او هرات د ښارونو د اشغال پيلامه ده. Bilgrami ص ۳۳۵

امير شېرعلي خان د وايسرالارد ليټن سره د خبرو او هغه ته د افغانستان په باب د اطلاعاتو ورکولو لپاره په کابل کي د انګريزانو خپل استازی نواب عطامحمدخان سيملې ته واستاوه. نواب عطامحمدخان د امير ټولي غوښتني او شکايتونه لارډ ليټن ته ورسول خو په هيڅ مورد کي يې د هغه قناعت حاصل نه کړ او د دې خبرې اصلي علت دا وو چي لارډ ليټن له لومړي سره له دې نيت سره هند ته راغلی وو چي په هره توګه کېږي په امير به دا مني چي په خپله خاوره کي، په تېره بيا، کندهار ، هرات، بلخ او کابل کي د برتانيې انګريزي استازو ته د ټاکل کېدلو اجازه ورکړي. لارډ ليټن له دې څخه وروسته په زغرده له امير څخه وغوښتل چي هغه غواړي د افغانستان په خاوره کي انګريزي استازي ولري او چي په هر صورت کېږي دا هدف بايد تر سره سي.

ډوک آف ارګايل ليکي"لارد ليټن وروسته عطامحمدخان ته وويل چي امير په دې خبري کي په غلطه دی چي وايي موږ تر هغه وخته پوري له چا سره مرسته نه کوو چي خپلې ګټي پکښي ونه وينو. که امير نه غواړي چي موږ خوشاله وساتي نو هغه مرستي به چي له ده سره يې کوو د هغه دښمنانو ته ورکړو او هغوی به يې په ورين تندي ومني. ده وروسته عطامحمدخان ته وويل هره شېبه چي موږ په دې پوه سو چي افغانستان نور زموږ دوست او متحد هيواد نه دی موږ له روسيې سره تفاهم کوو او افغانستان به د مځکي له مخ څخه محو کړو. البته دا ډېره تهديدونکي لهجه وه او وايسرا تر دې هم سخت کلمات استعمال کړل. هغه امير ته اخطار ورکړ چي برتانيه کولای سي پر هغه باندي د اوسپني کړۍ را وګرځوي او يا يې لکه وچ لرګی ميده ميده کړي؛ او امير د دوو اوسپنيزو لوښو په منځ کي يو وړوکی خاورين لوښی دی. تر دې بد لا بل هغه اعلان وو چي په هيڅ توګه توجيه کېدلای نه سي او هغه دا چي وايسرا تهديد وکړ چي که امير زموږ سره سمدستي تفاهم ته رسېدل نه غواړي نو روسان زموږ سره د افغانستان پر سر تفاهم ته تيار دي". ص ۴۲۵ Duke

امير د لارد ليټن د ليک په باب د سلا مشورې لپاره خپل خاص او نيژدې مقامات را وبلل. البته په سردارانو او مشرانو کي يوازي د هغه صدراعظم سيدنورمحمدشاه د سمي مشورې ورکولو توان او صلاحيت درلود او امير ته يې وويل چي تر څو پوري د انګريزانو سره د تماس ټينګولو څخه پرهيز وسي تر هغه وخته پوري به روسان، د آمو د سيند پر هغه غاړه او په هند کي انګريزان د امير د دوستی په ترلاسه کولو پسي ستړی وي. ده وويل چي هند ته په ځوسفرونو کي د انګريزانو په مقاصدو ښه پوه سوی دی او خاطرات به يې هيڅکله هير نه کړي. د لارډ ليټن لور ميرمن بيټي بالفور ليکي " په دې کي هيڅ شک نسته چي په دې خبره کي د امير د وزير عقيده په صحيح توګه څرګنده سوې وه. هغه په ۱۸۷۳ کي هند ته د سفر په وخت کی د لارډ نارت بروک سره کتلي او سفر يې بې نتيجې پای ته رسېدلی وو. هغه کابل ته له ډېري بدي خاطرې سره ستون سوی وو او تل به يې



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ویل چي له روسانو او انګریزانو دواړو څخه وېره په کار ده، خو روسان تر انګریزانو لا خطرناک دي. هغه یو لایق سړی وو، ډېرد نفوذ خاوند وو، د انګریزانو سر یې ډېره سخته دښمني درلوده او پر امیر باندي یې، چي هسې یې هم له انګریزانو څخه ښه زړه نه درلود، په دې برخه کي ډېر زیات تاثیر درلود "Balfour ص ص ۵۶-۵۵

لارډ لیټن، له لومړي سره، افغانستان ته د ډېرو بدو نیتونو سره راغلی وو. هغه په ژوند کي د امیر شیرعلي خان سره لیدلي نه وه، او نه یې د هغه کوم خصمانه عمل لیدلی وو، مګر هغه یې د انګریزانو دښمن، د روسانو دوست او حتی وحشي باله. لارډ لیټن لارډ کرین بروک ته په یوه لیک کي وایي چي " د امیر پالیسي هر وخت دا ده چي، تر څو په وس یې پوره وي، دوه لوی قدرتونه د یوه بل پر ضد استعمال کړي؛ او یوه ته هم په خپله خاوره کي د پښې د ایښودلو قدر امتیاز هم ورنه کړي. مګر زموږ په مقابل کي د هغه بېطرفي د ښه زړه نه ده او ښایي ډېر دوام هم ونه کړي. دی وایی ما بیخي ډېر کوښښ وکړ چي د کابل له امیر سره اړیکي بهتر کړم مګر ناکام سوم. افغانستان د تیرو شپږو اوو کالو په څیر پاته دی او هیڅ تغیر نه دی راغلی؛ زموږ پر مخ یې تولي دروازې تړلي او له روسانو سره تل په تماس کي وي. موږ باید په دې پوه سو چي که چیري د روسیې او برتانیې ترمنځ کوم جنګ پیښیږي په هغه صورت کي به افغانستان زموږ ملګری نه وي. لارډ لیټن لیکي چي امیر شیرعلي یوازې وحشي نه دی بلکه د وحشي توب سره یو څه لیونتوب هم لري، ځکه یې فیصله آني او عمل یې ناڅاپي وي. که څه هم چي روسان یې نه خوښیږي او پر هغوی باندي هم بې باوره دی، خو زموږ سره ډېره سخته شخصي دښمني لري. ده موږ هیڅ وخت په سیستان کي زموږ د حکمیت له امله نه یو بخښلي. په دې وروستیو دوولسو میاشتو کي یې ځان ښه په وسلو سمبال کړی دی او له روسانو سره تل په تماس کي وي. سره له هغه چي موږ د ده په برخه کي له احتیاط او پر هیز څخه کار اخیستی دی مګر دی هر وخت وایی چي زموږ پالیسی دي ته مجبور کړی دی چي ځان په وسلو سمبال کړي. ده د روسیې او ترکیې د جنګ په پیل کي، د دې پر ځای چي د روسانو پر ضد یې جهاد اعلان کړی وای، زموږ پر ضد یې جهاد اعلان کړ او اوس هم وایي چي شرایط ورته برابر سي بیا به جهاد اعلانوي" هغه کتاب ص ص ۲۴۵-۲۴۴

په خپل زور او قوت مغرور لارد لیټن له لومړي سره، د امیر شیرعلي خان سره، د روغي جوړي خیال نه درلود او د پېښور د کمیشنر مرستیال کیوناري ته یې، په هند کي د خپل ماموریت په دریمه میاشت، ولیکل چي " زما په فکر له امیرشیرعلي سره زموږ د اړیکو لویه نیمګړتیا په دې کي ده چي زموږ په لهجه کي د دواړو خواوو دریځ او موقف سم نه دی څرګند سوی، چي هغه د ده کمزوري او زموږ طاقت دی. امیر چي زموږ نرم دریځ ته ګوري نو فکر کوي چي موږ ده ته، په سیاسي لحاظ، ډېره سخته اړتیا لرو او په دې حساب نو د روسانو لپاره ډېر مهم دی. ده طبعا کوښښ کړی دی چي خپل دوه زورور ګاونډیان د یوه بل پر ضد استعمال کړي. موږ ده ته په څو میاشتو یا حتی څو هفتو کي دا ښودلای سو چي دونه زور نه لري چي دا لوبه دې بریالی پای ته ورسوي. زه په دې باور یم چي موږ باید هیڅ وخت پرې نه ږدو چي افغانستان د کوم بل طاقت لاسته ولوېږي. مګر زموږ او د افغانستان د اوسني امیر ترمنځ یو څرګند توپیر موجود دی. موږ له شیرعلي پرته ګوزاره کولای سو مګر هغه زموږ له مرستي پرته پر مخ نه سي تللای" هغه کتاب ص ۱۶۲

دوک آف ارګایل لیکي چي" د لارډ لیټن په دې ادعا کي چي امیر غواړي خپل زورور ګاونډیان د یوه بل پر ضد استعمال کړي یوه ذره حقیقت نسته. دی وایي شیرعلي بېخي هوښیار سړی وو او په دې پوهیدی چي د دې دوو طاقتونو ترمنځ په جنګ کي له یوه سره هم د ده اتحاد چنداني ګټه نه رسوي. دا ټوله مفکوره د لارډ لیټن خپل خیالات دي. په دې باب کره او زیات شواهد موجود دي چي لارډ لیټن او د هغه سلاکارانو یوازې د روسیې په باره کي فکر کاوه او په بل هیڅ شي کي یې ری نه واهه. ډوک آف ارګایل وایی له امیر او د هغه له مقاماتو سره دا اندېښنه وه چي د برتانیې تونده لهجه، تهدیدونکې ژبه او آمرانه کلمات د دې معنی لري چي دوی غواړي د افغانستان بشپړ واک په خپل لاس کي واخلي. دا شواهد دونه څرګند دي چي بالاخره لارډ لیټن خپل استازی نواب عطامحمدخان، چي څو کاله یې د څو پخوانیو وایسراګانو بشپړ اعتماد ترلاسه کړی وو، په دروغ ویلو تورنوي. دی وایي چي زموږ استازي خپل ریپوټونه قصداً مبهم او بې مفهومه جوړ کړي ول. دا داسي یوه ادعاده چي له ټولو هغو لیکونو سره چي پارلمان ته رسیدلي دي په تضاد کي دي. ډوک آف ارګایل د خپل کتاب په حاشیه کي لیکي چي دا پر عطامحمدخان باندي یو عجیب غیر عادلانه تور دی؛ ځکه چي لارد لیټن د همدغه ماموریت په پای کي د اکتوبر پر دیارلسمه نېټه هغه ته یو ساعت، ځینځیر او لس زره روپۍ ورکړې او د هغه د خدماتو ستاینه یې وکړه"

Duke ص ص ۴۴۹-۴۴۷

لارډ لیټن، له دې څخه یوه میاشت وروسته، همدغه کیوناري ته، په یوه بل لیک کي د افغانستان په باب خپل بد استعماري نیت څرګند کړ. ده هغه ته ولیکل چي " د کابل له امیر سره زموږ اړیکي د دې پر ځای چي زموږ امنیت تامین کړي زموږ د پرله پسي اندېښني سبب دی. دا په هیڅ توګه زموږ په ګټه نه ده چي په خپل سرحد کي د داسی یوه قوت د استحکام لپاره کار وکړو چي د هغه دوستي زموږ د امنیت لپاره هیڅ ګټه نه کوي، او دښمنی ته یې پرته له جنګه په بله توګه جواب نه سو ورکولای، چي په هغه کي هم برى له ستونزو خالي نه دی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نو زه فکر کوم چي د دې پر ځای چي د افغانستان د قوي کولو لپاره کار وکړو بهتره دا ده چي د هغه د پاشل کېدلو او کمزوري کولو لپاره اقدامات وکړو. لارډ لېټن وروسته لیکي چي شېرعلي زموږ له لاسه وتلی دی او موږ باید د خپل دریځ د قوي کولو لپاره، په هیڅ توګه، د هغه پروا ونه کړو... موږ هیڅ وخت د افغانانو رضاییت نه سو ترلاسه کولای؛ ځکه چي د هغوی غوښتني زموږ له ګټو سره سر نه خوري. له دوی سره چي هر څومره مرسته وسي مننه به ونه کړي. نو دوی ته باید قوت وښودل سي. هر څومره چي دوی ته صدمه ورسول سي او هر څومره چي زیات خوږ سي په هغه اندازه دوی تر اغېزې لاندي راوستل کېږي" هغه کتاب ص ص ۱۶۵-۱۶۶

نواب عطامحمدخان امیرشېرعلی خان ته د لارډ لیټن تهدیدونکي کلمات، لکه څرنګه چي ورته ویل سوي وه کټ مټ هغسي، ورسول. امیر شېرعلی خان بالاخره مجبور سو چي خپل صدراعظم نورمحمدشاه ، د ۱۸۷۶ کال د ډسامبر په وروستیو شپو ورځو کي، د سرلیویس پیلي سره د خبرو لپاره، پېښور ته واستوي. دا مذاکرات د ۱۸۷۷ کال د جنوري د میاشتي په پای کي پیل سول. د برتانیې استازي لیویس پیلي غوښتل د لومړي سره داسي وبرېښوي چي ګواکي د دې خبرو غوښتنه امیر شېرعلی خان کړې ده. په دې صورت کي به نو لیویس پیلي خپل شرایط تحمیلولای؛ مګر نورمحمدشاه هوښار سړی وو او د سرلیویس پیلي لپاره له لومړۍ ورځي معلومه سوه چي د هغه غولول او د خپل هیواد تر ګټو تېرول ممکن نه دي. ډوک اف ارګایل لیکي" د نورمحمدشاه د لیاقت او د شخصیت له درونداوالي څخه هیڅ انکار نه سي کېدلای. هغه د مذاکراتو له پیل څخه، د ډېري سختي مرګاني ناروغی سره سره، چي کرۍ ورځ به له دردونو څخه کړېدی، د خپل دریځ، د امیر له نظر او د افغانستان له خپلواکی څخه دفاع وکړه. سرلیویس پیلي، د فبروري پر دریمه، د کنفرانس په لومړنی غیر رسمي غونډه کي، نورمحمدشاه ته وویل چي دا په امیر اړه لري چي خپل استازی لکه څرنګه چي دی یې غواړي هغه په خوشالي ور ستنوي کنه. نورمحمدشاه په جواب کي ورته وویل چي نه! دا په تاسي اړه لري. او وروسته یې خپله خبره سمه کړه او وې ویل چي په حقیقت کي دا نه په تاسي او نه په امیر اړه لري بلکه دا په عدالت اړه لري. د لومړۍ غونډي په پای کي یې لیویس پیلي ته وویل چي ستاسي حکومت ډېر ستر او غښتلی دی، او زموږ حکومت ډېر کمزوری دی. موږ له ډېره وخته ستاسي سره دوستانه اړیکي لرو او امیر ستاسي لمني ته لاس اچولی دی؛ تر څو چي لاس یې غوڅ نه سي ستاسي لمنه به خوشي نه کړي. مګر کله چي یې د امیر د استازي په حیث خبري کولي نو دونه په قوت ږغېدی چي خپل حریف یې کونج ته کړ. د فبروري پر پنځمه یې د سر لیویس پیلي څخه پوښتنه وکړه چي که اوسنی وایسرا زموږ سره کومه موافقه وکړي او تر ده وروسته بل وایسرا ووایي چي دا موافقتنامه نه مني نو بیا به څه کېږي؟ سرلیویس پیلي غوښتل چي دې پوښتني ته مبهم جواب ورکړي خو نورمحمدشاه ورته وویل چي ما ته د نه او هو جواب راکړه. نورمحمدشاه وروسته بیا ورته وویل چي آیا د سرجان لارنس او د مرحوم امیر له وخت څخه بیا د لارډ نارت بروک او اوسني امیر تر وخته پوري ټولي لاسلیک سوي موافقتنامې فسخ سوي دي. سرلیویس پیلي ورته وویل چي هغه د موافقتنامو د فسخ کولو صلاحیت نه لري، بلکه له موجودو موافقتنامو سره د ځینو موادو د زیاتولو پیشنهاد کوي. نورمحمدشاه ورته وویل داسي به یې فرض کړو چي موږ له لارډ لیټن سره موافقتنامه لاسلیک کړه او شل کاله وروسته یوه بل وایسرا وویل چي دا نه مني نو زموږ تکلیف به څه وي. لیویس پیلي ورته وویل چي دا خو امیر نارضاییت ښکاره کړی دی او موږ مجبور یو چي له هغه سره پر سویو موافقو باندي تجدید نظر وکړو. سید نورمحمدشاه ورته وویل امیر ځکه ناخوښي او اعتراض ښودلی دی چي د زړو موافقو څخه سرغړونه سوې ده" هغه کتاب ص ص ۴۵۹-۴۵۷

څرنګه چي وایسرا د نورمحمدشاه په مقابل کي هیڅ ډول منطق نه درلودل نو یې خپل استازي لیویس پیلي ته هدایت ورکړ چي امیر ته ووایي چي که هغه د دواړو حکومتونو ترمنځ د نوي تړون د لاسلیک کېدلو سره موافقه نه کوي نو هغه ته باید وویل سي چي دواړه حکومتونه خپلو پخوانیو دریځونو ته ګرځي. د دې لپاره چي د پخوانیو دریځونو یا شرایطو په باب د امیر له ذهن څخه هر ډول غلط فهمي لیری سي، وایسرا لیویس پیلي ته هدایت ورکړ چي امیر ته ووایي چي د هغه تړون په اساس چي له مرحوم امیر سره لاسلیک سوی وو، افغانستان د برتانیې د دوستانو دوست او د دښمنانو دښمن وو؛ په داسي حال کي چي په مقابل کي برتانیې دغه راز دوه اړخیز مسولیت نه دی درلودلی. د بلي خوا څرنګه چي امیرخپل مسولیتونه نه دي پوره کړي او د برتانیې په مقابل کي یې خصمانه دریځ غوره کړی دی، د برتانیې استازي یې په خپله خاوره کي نه دي منلي، د برتانیې د مرستو مننه یې نه ده کړې، په خپله خاوره کي یې د برتانیې افسرانو ته د تیریدلو اجازه نه ده ورکړې؛ پر خپلو ګاونډیانو باندي یې د یرغل کولو نیت درلودلی دی او بالاخره یې د برتانیې پر ضد د جهاد اعلان هم کړی دی. د دې لومړیو تورونو معنی یوازي دا وه چي امیر د لارډ مایو سره پر کړو تړونونو باندي ټینګ ولاړ وو، نور تورونه یې تشي آوازې وې او دا چي امیر د برتانیې په مقابل کي جهاد اعلان کړی وو، د دې علت پخپله د امیر په مقابل کي د لارډ لیټن تشدد وو، چي امیر یې د جهاد اعلانولو ته مجبور کړی وو. هغه کتاب ص ص ۴۷۰-۴۷۱



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لارډ لیټن د پېښور په مذاکراتو کي له وچي سرزوری څخه کار واخیست او د نورمحمدشاه څخه یې وغوښتل چي په افغانستان کي د برتانیې استازو د ټاکلو موضوع ته د نه او هو جواب ورکړي بله هیڅ لاره نسته. سیدنورمحمدشاه تر سخت فشار لاندي وو او په یوه میاشت کي یې روغتیایی حالت ډېر سخت خراب سو او بالاخره د مارچ پر شپږویشتمه وفات سو. امیر یا د خپل صدراعظم د وفات د خبر د اورېدلو او یا د هغه د سختي ناروغی په شپو ورځو کي د پېښور د مذاکراتو د پر مخ بېولو لپاره بل استازی ټاکلی وو او وایسرا ته رپوټ ورکړه سوی وو چي دغه استازي ته واک ورکړه سوی دی چي د وایسرا ټولي غوښتني ومني. لارډ لیټن پخپله وایي چي د مارچ له دیرشمي څخه مخکي، چي سرلیویس پیلي ته یې د مذاکراتو د بندولو امر وکړ، په دې موضوع خبر وو. هغه کتاب ص ۴۸۰

لارډ رابرټس، چي د لارډ لیټن د توندروي پالیسی طرفدار وو، او د افغانستان او انګلیس په دوهم جنګ کي یې ډېر عمده رول درلود، دې موضوع ته داسي رنګ ورکوي چي ګواکي "امیر شېرعلی خان د خپل صدراعظم د وفات د خبر د اورېدلو سره خپل اعصاب له لاسه ورکړل او د لېونتوب سرحد ته ورسیدی او د برتانیې حکومت ته یې ګواښونه پیل کړل. ده اعلان وکړ چي د انګریزانو سره موافقي ته رسېدل ممکن نه دي او ده ته له جنګ نه پرته بله لاره پاته نه ده. ده به ویل چي اویا میلیونه روپۍ لري او په هره یوه به انګریزان پر سرونو وولي. امیر وروسته د برتانیې پر ضد د جهاد اعلان وکړ "Roberts ص ص ۳۳۶-۳۳۵

البته د امیرشېرعلي خان له هغه وروستي نسبتا مفصل لیک څخه، چي پخپله لارډ رابرټس په خپل کتاب کي رانقل کړی دی، چي وایسرا ته یې لېږلی دی، په څرګنده ښکاري چي امیرشېرعلي خان، د یوه هوښیار پاچا په حیث، چي خپل او د برتانیې زور ورته معلوم وو، تر وروستي سرحده د برتانیې له دښمنی او جنګ څخه ځان ژغوره او له هغوی سره یې د دوستی د دوام هیله کوله. امیر په هغه لیک کي لیکلي دي چي زه په صادقانه توګه او د زړه له کومي درته وایم چي زموږ حکومت به تر ابده، او لکه د تل په څېر، د دواړو حکومتونو ترمنځ دوستانه اړېکي وساتي او د برتانیې د حکومت په مقابل کي هیڅ ډول خصمانه احساس نه لري او نه به مخالفت ورسره وکړي.

امیرشېرعلي خان په خپل هغه لیک کي د وایسرا د وروستي لیک هغي برخي ته اشاره کړې ده چي ګواکي امیر له بده نیته او د دښمنی په وجه د انګریزانو هیات ته، کابل ته د ورتللو، اجازه نه ده ورکړې. امیرشېرعلي خان وایي چي که یې د برتانیې د حکومت هیات ته له هغه زیات شمېر ورسره عسکرو سره کابل ته د ورتللو اجازه ورکړې وای نو د افغانستان خلکو به دا پر خپل استقلال باندي تېری بللی وای او زموږ ترمنځ اوسنی دوستی ته به یې تاوان رسولی وای. امیرشېرعلي خان لیکي چي که چیري د برتانیې حکومت یو هیات له شلو یا دېرشوتنو سره، لکه د روسانو له هیات سره چي ملګري ول، را واستوي، موږ به یې هرکلی وکړو او هیڅ وخت به مخالفت ورسره ونه کړو. هغه کتاب ص ص ۳۵۳-۳۵۲

البته وایسرا خپلو هغو بېشرمانه تهدیدونو ته چي د پښتني قبایلو په برخه کي یې امیر ته کوي دوستانه پیشنهادونه وایي. وایسرا په خپل یوه وروستي لیک کي امیر ته لیکلي دي چي که هغو قبایلو ته چي د انګریزانو هیات ته یې لاربنودنه کړې ده کوم تاوان ورسېږي نو مسولیت به یې د امیر پر غاړه وي او امیر به مجبور وي چي هغوی ته د ټول رسېدلي تاوان جریمه ورکړي او که هر وخت امیر دغو قبایلو ته د تاوان رسولو خیال وکړي نو د برتانیې حکومت به د هغوی ساتنه وکړي.

وایسرا دغه راز له امیر شېرعلي خان څخه غواړي چي خپل زوی سردارمحمدیعقوب خان له بنده خوشي کړي او هند ته یې واستوي، کنه نو د دواړو هیوادونو ترمنځ دوستی ته صدمه رسېږي. وایسرا د افغانستان په داخلي چارو کي دا بېشرمانه مداخله د دې هیواد استقلال ته تهدید نه بولي او لا هم د افغانستان په چارو کي د بېطرفی او له دې هیواد سره د دوستی ادعاوی کوي. امیرشېرعلي خان په خپل وروستي لیک کي دې دواړو موضوعاتو ته اشاره کړې او له وایسرا څخه یې دوستانه ګیله کړې ده. هغه کتاب ص ۳۵۲

د ۱۸۷۷ کال د اګست پر څوارلسمه لارلیټن امیر ته د خپل استازي نواب غلام حسین خان په لاس یو لیک واستاوه او په هغه کې یې لیکلي وه چي د سرنیویل چمبرلین په مشری یو هیات به کابل ته درسي او پر مهمو او عاجلو موضوعاتو به خبري درسره وکړي. د اګسټ پر اووه لسمه د امیر ګران زوی ولیعهد شهزاده عبدالله جان د شپاړسو کالو په عمر وفات سو او لارډ لیټن، د امیر په دغسي غمګین حالت کي، د هیات لېږل یو څه وځنډول. د سپټمبر په میاشت کي یې امیر ته د تهدیدونکو کلماتو څخه یو ډک لیک واستاوه او په هغه کي یې لیکلي وه چي د هیات په کارکي ځنډ او یا مخنیوی به خصمانه عمل وګڼل سي. په داسي حال کي چي د روسانو هیات د اګسټ پر پنځه ویشتمه له کابل څخه وتلی وو او وایسرا ته د هیڅ ډول تلوار کولو دلیل پاته نه وو او له بلي خوا نیویل چمبرلین له پېښور څخه وایسرا ته رپوټ ورکړی وو چي امیر د هیات د منلو سره هیڅ مخالفت نه لري او یوازینی ګیله یې د وایسرا د تهدیدونکو او تقریبا توهینونکو کلماتو له استعمال څخه ده. امیر ویل داسي ښکاري لکه دا هیات چي د افغانستان خاوري ته په زور داخلېږي؛ زه په دغه توګه د هیات له راتلو سره موافقه نه سم کولای؛او چي زما سرحدی ساتونکو او افسرانو ته زما هدایت نه وي رسېدلی هغوی به څرنګه هیات ته د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تېرېدلو اجازه ورکړي، د دې معنى خو دا ده چې دا هيات غواړي ما په لوی لاس بې آبه کړي. امير ليکلي وه چې زه د پخوا په څېر ستاسې دوست يم او هيڅ ډول دښمني نه درسره لرم... يوه ورځ وروسته د برتانيې استازي له کابل څخه ريوټ ورکړ چې امير سوګند ياد کړ چې له انګرېزانو سره هيڅ ډول مخالفت نه لري؛ هغه به د هيات د منلو لپاره سرحد ته يو هيات ولېږي او که هيات، په زور، د افغانستان خاورې ته د داخلېدلو هڅه ونه کړي نو هيڅ مخالفت به ورسره ونه کړي. او که په زور داخلېږي نو دی به څکه اجازه ورنه کړی چې دا د ده شخصيت ته سپکاوی دی. امير ليکلي وه چې د ده په باب له کابل څخه غلط رپوټونه ورکړه سوي دي. ده د روسانو هيات ته له سره بلنه نه ده ورکړې او که د انګريزانو هيات کابل ته راسي نو ټولي غلط فهمې به ليري سي. وايسرا لارډ ليټن د امير دې ټولو خبرو ته په يوه ټيلګراف جواب ورکړ او ورته ويلي يې وه چې دا خبرې په وضع کې هيڅ تغير نه سي راوستلای او د سرليوين چمبرلين هيات به د تقسيم اوقات سره سم د افغانستان خاورې ته داخلېږي. Duke ص ص ۵۰۵-۵۰۴

ډوک آف ارګايل د افغانستان او په خاصه توګه د امير شېرعلي خان په مقابل کې د انګريز د حکومت او په تېره بيا د ګورنرجنرال لارډ ليټن د غيرعادلانه سلوک په باب ليکي" زه اعتراف کوم چې دا جملې د احساساتو د څرګندولو پرته نه سم ليکلای. په دې جملو کې داسې خبرې او اعمال قيد سوی دي چې زموږ هيواد ته يې يوه نه هېرېدونکې رسوايي ور په برخه کړې ده. تاريخ د داسې زوررو پاچاهانو او حکومتونو له اعلاميو او اعلانونو څخه ډک دی چې غوښتل يې په دروغو او ناحقه پلمو د کمزورو هيوادونو حقوق پايمال کړي او پر هغوی باندې خپلې حملې ريښتوني او په حقه وښيي. زه ګومان نه کوم چې په دې ټولو اعلاميو کې به دونه دروغ، بې عدالتي او بېځايه تورونه پيدا کړل سي لکه د برتانيې حکومت چې د کابل پر امير باندې ولګول.

زه دا خبره تکراروم چې موږ په افغانستان کې نه د روسيې او نه د کوم بل هيواد نفوذ زغملای سو او دا هم منم چې د برتانيې حکومت دا نه سوای زغملای چې د کابل امير دې روسي هيات ته د ورتلو اجازه ورکړي او د برتانيې هيات دې خپلې خاورې ته پرې نه ږدي. مګر د برتانيې حکومت بايد دې حقيقت ته متوجه وي چې د روسانو هيات د دوی د اعمالو په نتيجه کې کابل ته راغی. د بلې خوا، بايد دې حقيقت ته هم توجه وکړي چې امير شېرعلي د وايسرا هيات نه رداوه بلکه ويل يې چې د برتانيې ل هيات سره د ده شخصي ليدنه به غلط فهمي ليري کړي. امير فقط دونه غوښتل چې د برتانيې هيات بايد د ده د افسرانو او خلکو په مخ کې پر ده باندې تحميل نه سي. دوی په دې پوهېدل چې هغه د هند د حکومت له فيصلې څخه شکايت نه کاوه بلکه ده او د ده افسرانو ته يې د انګرېزانو د لاپو شاپو څخه ډکو ليکونو او پيغامونو څخه، چې حتی د ده د زوی د ماتم په شپو کې يې هم ورته رالېږل، شکايت کاوه. دوی پوهېدل چې که په دنيا کې ريښتونی غم موجود وي هغه به د سردار عبدالله جان د مړيني له امله د اميرشېرعلي خان ماتم وي، چې تر ټولې دنيا ورباندې ګران وو او د ژوند ټول اميدونه يې په هغه پورې تړلي ول، خو د برتانوي هند حکومت لړترلږه د دغه لوی غم سرېدلو ته هم حوصله ونه کړه، او پر امير باندې يې په داسې حال کې فشار اچاوه چې هغه د خپل ګران زوی د ماتم پر کمبله ناست وو... زموږ حکومت په ختيځه اروپا کې بې عدالتی او ظلمونه کړي دي، مګر که په هند کې د هغه بې عدالتيو ته وګورو نو په ختيځه اروپا کې سوي بې عدالتی د شيخ او زاهد عملونه ورته ښکاري. زه په پوره زړه دا پيش بيني کولای سم چې هغه وخت راتلونکی دی چې هر انګرېز وګړی چې په پيښور کې د افغانستان د استازي په مقابل کې د لارډ ليټن جوابونه ولولي نو د شرم او خجالت احساس به کوي " هغه کتاب ص ص ۵۱۶-۵۱۴

د ۱۸۷۸ کال د ډسمبر په مياشت کې، چې د افغان او انګليس دوهم جنګ پيل سوی وو، د انګلستان پارلمان يوې جرګه ګۍ ته وظيفه ورکړه چې د دې جنګ د علتونو په باب رپوټونه برابر کړي. د پارلمان دغې جرګه ګۍ د افغانستان د جنګ علتونه Causes of the Afghan War په نوم د رپوټونو يو بشپړ کتاب ترتيب کړ. د کتاب په مقدمه کې يې وليکل: " ... دا جنګ ډېر ناڅاپه پيل سو. نه يوازې زموږ حکومت له پارلمان سره سلامشوره ونه کړه؛ نه يوازې يې د هغې پاليسی په باب چې د جنګ د پيل کېدلو سبب سوه اطلاع ورنه کړه بلکه کله چې په دې باره کې پوښتنې رامنځته سوې نو داسې جوابونه ورکړه سول چې مطلب يې قصدي غولول وه . تر ټولو هوښيار او ماهر مقامات يې وغولول او د هغوی په وسيله يې ټول ملت ګمراه کړ. د ۱۸۷۸ کال د آګسټ په مياشت کې پارلمان په داسې حال کې تعطيل سو چې هر څوک په دې پوهېدل چې دا جنګ پيل کېدونکی دی. ځينو ورځپاڼو ته ، چې د مرکزي اسيا په باب خپروني کوي، وعده ورکړه سوې وه چې په دې باره کې به معلومات ورکول کېږی او ورته ويل سوي وه چې د هغو معلوماتو د خپرولو لپاره تيار اوسي. مګر د افغانستان په باره کې مهم اطلاعات داسې پټ سول چې په دې باره کې هيڅ ورځپاڼې ته هيڅ معلومات ورنه کړه سول ... د کتاب د مقدمې په پای کې راغلي دي...موږ په دې عقيده يو چې دا جنګ غير عادلانه او په دې کې شک نسته چې بې عدالتي ژر يا وروسته تباهي راولي. حتی که يې عادلانه هم وبولو نو نامناسبه دی او هغه پاليسي چې د هغې په اساس دغه جنګ پيل سو غير معقوله ده او په هند کې به زموږ واکمنی ته خطر پېښ کړي. موږ ادعا کوو چې دغه پاليسي نوې ده او په ۱۸۷۵ کال کې په تلوار، پټه او بې سلامشورې پيل سوه... موږ په دې عقيده يو چې دا د هر وطنپال وظيفه ده چې خپل هيوا دغه راز غيرعادلانه او تلواري او بې سنجشه اعمالو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولۍ

له نتيجو څخه وژغوري او پر دې خبري ټينګار وکړي چي موږ باید د روسانو په څېر د مځکو د لاندي کولو د تباه کونکي پالیسی لاره غوره نه کړو"

ګورنرجنرال لارډ لیټن پر افغانستان باندي د حملې کولو لپاره د پلمې د پیدا کولو او د دې جنګ د پیل کولو د جواز د ترلاسه کولو لپاره هر ډول دروغ وویل او بالاخره یې دا غیر عادلانه جنګ پیل کړ. نه یوازي یې ده ته ګټه ونه کړه بلکه خپل هیواد او حکومت ته یې تاریخي ناکامي او شرم پرېښود. لومړی خو سړی وګوري چي لارډ لیټن پر افغانستان باندي د حملې کولو د پلمې جوړولو لپاره څومره غیرعادلانه لاره غوره کړې ده. یا د برتانیې هیات ته اجازه ورکړه چي افغانستان ته داخل سي او یا به جنګ کوو. زه ګومان کوم چي د نړۍ په تاریخ کي به د جنګ لپاره دومره بې ځایه او ظالمانه پلمه ډېره لږه پېښه سوې وي. البته د پارلمان په رپوټونو کي راغلي دي امیر، د وایسرا لارډ لیټن د محلي استازي، نواب غلام حسین خان په لاس یو لیک استولی او په هغه کي یې د لارډ لیټن دا غوښتنه هم په ډېره عاجزي منلې ده. ځکه چي امیر پوهېدي چي لارډ لیټن د جنګ فیصله کړې ده او له هغه سره د ده زور برابر نه دی. د پارلمان په رپوټونو یا د افغانستان د جنګ علتونو په کتاب کي راغلي دي"نواب غلام حسین خان د امیر له وزیر شاه محمد سره تر کتلو وروسته یو بل لیک ورسره راووړ چي په هغه کي شاه محمد سوګند یاد کړی وو چي امیر به د غلط فهمی د لیري کولو لپاره پخپله د برتانیې هیات افغانستان ته ور وبولي او هر کلی به یې وکړي، خو په دې شرط چي د برتانیې حکومت دغه هیات په زور ورباندي قبول نه کړي او هیات یو څو ورځي په پېښور کي پاته سي. ځکه چي که دا هیات د ده له خوښي پرته افغانستان ته داخل سي نو دی به د خپلو خلکو په مخ کي سپک سي. ده وویل چي د ده او د انګرېزانو تر منځ دغه غلط فهمي د خبرلیکونکو د غلطو او له شیطانته ډکو لیکنو له امله پېښه سوې ده. امیر ویلي وه چي د روسیې هیات د ده په غوښتنه افغانستان ته نه دی راغلی بلکه دی هغه وخت په خبر سو چي هغوی د آمو تر سیند را اوښتي وه. ده ویلي وه چي روسان هسي د ګاونډیانو په حیث راغلي دي او دا رپوټونه یې رد کړي وه چي روسان ګواکي د کوم بل مطلب لپاره راغلي دي. ده لیکلي وه چي له برتانوي هیات سره مذاکرات به ټولي لانجې حل کړي... ده لیکلي وه چي د برتانیې د هیات د منلو لپاره به عالي رتبه استازي واستوي او پخپله به په افغانستان کي د هغوی د سلامت ساتلو ذمه ووهي او دلته به یې په بشپړ عزت مېلمه پالنه وکړي..." هغه کتاب ص ص ۱۷۶-۷۷

له دې څخه وروسته، امیرشېرعلي خان، وایسرا لیټن ته، یو بل لیک په دومره عاجزانه کلماتو لېږلی دی چي سړی فکر نه کوي دا به د امیر خپل لیک وي. خو امیر شېرعلي خان پوهېدی چي پر هیواد باندي یې بلا نازلېږي او دی مجبور دی چي په هره توګه کیږي مخه یې ونیسي. په وروستي لیک کي یې لیکلي دي" د هغه مصیبت له امله چي د خدای د فرمان په وجه راباندي نازل سو( مطلب یې د خپل کشر زوی او ولیعهد سردار عبدالله جان وفات دی ج) زما څخه یې لار ګودر ورک کړي دي.ځکه نو زما هیله دا ده چي د برتانیې د حکومت استازي یو څه صبر وکړي او دا به ډېره ښه او مناسبه لاره وي. تاسو جناب وګورئ چي زما له مامورینو سره څومره سخت او سپک سلوک سوی دی. په دوستي او اتحاد کي خو څوک داسي نه کوي. په هر صورت زما د حکومت مامورین به ستاسي د افسرانو له لوري د سپک سلوک په مقابل کي هیڅ ډول کینه او دښمني په زړونو کي ونه ساتي... نواب غلام حسین خان، چي تاسي ته زما لیک دروړي، د برتانیې د حکومت د هدایت په اساس، د رخصت غوښتنه وکړه او موږ هم اجازه ورکړه." هغه کتاب ص ص ۱۸۰-۱۷۹

د نولسمي پېړۍ په وروستیو لسیزو کي د انګلستان د پارلمان غړي، سیاستمدار او ژورنالیسټ هینري لابوچيHenry Labouche د برتانیې پر خارجي پالیسي باندي د تبصرې په ترڅ کي داسي جانانه اعتراف کړی دی چي په تاریخ کي په ثبتېدلو ارزي. هغه وایي" موږ بې له استثناء د نړۍ د تاریخ تر ټولو لوی داړه ماران او رهزنان یو. موږ تر نورو هیوادونو ځکه لا بدتر یو چي موږ منافقان هم یو؛ ځکه چي موږ هر وخت د خلکو شته منۍ لوټو او تل دا خبره کوو چي دا عمل د خلکو د خیر ښې ګڼې لپاره کوو" Scanlon P 137

د افغان او انګلیس دوهم جنګ، د لومړي جنګ په څېر، د همدغو داړه ماریو، لوټماریو او منافقتونو په سلسله کي یو غیر عادلانه تحمیل سوې جګړه وه. جنرال سټولیتوف افغانستان ته د انګریزي هیات د لېږل کېدلو د خبر د اورېدلو سره سم د افغانستان څخه ووت او لارډ لیتن پخپله لیکي چي په اروپا کي د سولې وروستۍ موافقې زموږ لاسونه ازاد کړل او امیر نور نه سي کولای چي یا موږ ته ستونزي پېښي کړي او یا له روسیې څخه د مرستي طمع ورته پیدا سي. دی وایي زه په دې عقیده یم چي که امیر زموږ سره دښمني راواخلي یوه هفته په کابل کي ژوند نه سي کولای او پر هغه باندي د فشار اچولو لپاره تر اوسنیو شرایطو بل هیڅ وخت مناسب فرصت لاسته نه وو راغلی. Balfour ص ۲۵۸

په زړه پوري خبره خو دا ده چي، د ځینو اسنادو له مخي، د روسیې مرکزي حکومت د افغانستان لپاره د جنرال سټولیتوف سفارت اصلا منظور کړی نه وو، او انګرېزانو ګواکي هسي خپل ځانته خیالي بلا جوړه کړې وه. لارډ سالیزبوري لارډ اوډو رسل ته په یوه لیک کي وایی چي دا سفارت لکه چي هسي افسانه وه. کونټ شووالوف چي په برلین کي وو د دغه سفارت په باره کي یې هیڅ خبره نه وه اورېدلې او له هغه څخه وروسته چي یې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

درې هفتې په سینټ پیترزبورګ کې تیرې کړې هم په دې سفارت خبر نه وو. کله چې ویلباډ ته ولاړ هلته یې په ورځپاڼو کې د دغه سفارت په باب خبرونه ولوستل؛ سمدستي صدراعظم ګورچاکوف ته ورغی او له هغه څخه یې پوښتنه وکړه چې روسیې کابل ته رسمي هیات لیږلی دی؟ ګورچاکوف ورته وویل چې هیڅ اطلاع نه لري. Sykes . ص ۱۰۹

افغانستان ته د جنرال ستولیتوف لیږل کېدل دومره مرموز او ضمنا بې اهمیته وه چې حتی د روسیې خارجه وزیر ایم دې ګیرس په روسیه کې د برتانیې سفیر لارډ لوفټس د دې پوښتنې په جواب کې چې آیا روسیې کابل ته کوم هیات لیږلی دی وویل چې نه د امپراطور حکومت او نه جنرال کوفمان دغه راز کوم هیات کابل ته استولی دی. هغه کتاب ص ۱۰۷

یو نظر خو لا دادی چې جنرال ستولیتوف صرف غوښتل چې د برتانوي هند او افغانستان ترمنځ بدبینې، چې پخپله د بحران سرحد ته رسېدلې وه، نوره هم زیاته کړي. ځکه یې شېرعلي خان ته مشوره ورکړه، چې په داسې حال کې چې د روسانو هیات په کابل کې وي، د انګریزانو هیات ونه مني، ځکه چې روسیه او انګرېزان د یوه بل سخت دښمنان دي او دا په ډیپلوماتیک لحاظ ښه نه دی چې د دواړو دښمنو هیوادونو استازي په یوه وخت کې په کابل کې وي. کله چې د برتانوي هند او افغانستان تر منځ اړیکې ښه ترخه سوه، او خبره د بحران سرحد ته ورسېده نو سټولیټوف له کابل څخه ووت، ګواکي هغه ته وظیفه ورکړه سوې وه چې د افغانستان او برتانوي هند اړیکې د جنګ حالت ته ورسوي. کله چې ستولیتوف پوه سو چې ماموریت یې بشپړ کړی دی نو یو نا ځاپه له کابل څخه ووت. Bilgrami ص ۱۹۱

که څه هم چې په افغانستان کې د انګریزانو برې او پر هغه هیواد باندې د انګرېزانو د بشپړ تسلط زغمل د روسانو لپاره ګرانه خبره وه، مګر روسان مجبور ول چې دا تریخ حقیقت ومنیو ځکه چې په هیڅ صورت یې نه غوښتل چې د انګریزانو سره د افغانستان پر سر مخامخ جګړې ته ودرېږي؛ او نه یې د دې لپاره پوځي قوت درلود. ځکه نو د روسانو لپاره دا چنداني ګټوره خبره نه وه چې د امیرشېرعلي خان پرسر د انګریزانو سره مخالفت وکړي. په انګلستان کې د روسانو سلیر کونټ شووالوف لارد سالیزبوري ته ولیکل چې« کابل ته روسی هیات په داسې حالاتو کې استول سوی وو چې د برتانیې او روسیې ترمنځ اړیکې ډیر ترخه او خراب ول. کله چې زموږ ترمنځ اړیکې بهتر سول، هیات مو بیرته را وایستی. په آینده کې به د افغانستان له حکومت سره اړیکې نه ساتو. هغه کتاب ص ۱۹۴

خو وایسرا لارډ لیټن وچې ډېرې ته سر نیولی وو. هغه له افغانستان سره د جنګ کولو او د امیر شېرعلی خان د پرزولو فیصله کړې وه؛ او په دې یې ځان قانع کړی وو چې روسان غواړي د افغانستان د لارې پر هند باندې حمله وکړي نو په هره توګه چې کېږي باید په افغانستان کې د روسانو د نفوذ مخه ونیوله سي. لارډ لیټن خارجه وزیر ته پیشنهاد وکړ چې " د امیر شېرعلي خان په مقابل کې، زموږ لپاره، درې لارې موجودې دي. لومړی خو دا چې هم وډارول سي او هم یو څه ورکړه سي او په دې توګه د روسانو نفوذ د تل لپاره بې اثره کړه سي. که دا ونه سي نو بیا له هغه سره ټولې مرستی او دوستانه اړیکې وشلول سي؛ د افغانستان پاچهي توټه توټه سي( چې زه فکر کوم په ډیره اسانی سره یې کولای سو) او د اوسني امیر پر ځای باندې داسی سړی کېښنوو چې زموږ دوست وي، زموږ ګټې وساتي او تر ډیره ځایه هر وخت موږ ته اړ وي.

که دا دواړه کاره ونه سي نو بیا زموږ د شمال لوېدیځ سرحد د ښه خوندي کولو لپاره باید دافغانستان ډیره برخه اشغال سي. دا کار لکه څرنګه چې ځیني کسان یې ډیر ګران بولي هغومره ګران هم نه دی، خو زه وایم بهتره به دا وي چې د لومړیو دوو کارونو څخه یو وسي" Balfour ص ۲۵۵

لارډ لیټن خارجه وزیر ته ولیکل چې" ستاسې د اجازې سره سم، زه پیشنهاد کوم چې کابل ته یو برتانوی هیات واستول سي. له هغه څخه مخکې باید امیر ته یو پیغام ولیږل سي چې هیات پر لارې دی او باید چې امیر یې په داسې توګه هرکلی وکړي لکه د روسانو د هیات هرکلی چې یې کړی وو. له هیات سره به یو لیک ورسره وي او امیر ته به د ټولو هغو تېرو یادونه کوي چې د دواړو هیوادونو ترمنځ د اړیکو په ارتباط یې کړی دي او برتانیې سزا نه ده ورکړې" هغه کتاب ص ۲۵۶

لارد لیټن لیکلی پیغام کابل ته واستاوه او لکه څرنګه چې انتظار یې ایستل کېدی، امیرشېرعلي خان ته یې ډېر بیځایه اخطارونه ورکړي وه. امیر شېرعلی خان، د یوه مغرور افغان په حیث، د لارډ لیټن پېټکي او، بې اجازې، د افغانستان خاورې ته د انګریزانو د استازو لیږل کېدل نه سوای زغملای؛ ځکه یې نو د خیبر د درې په خوله کې خپل منصبدار فیض محمد خان ته امر وکړ چې هیڅ انګریز ته اجازه ورنه کړي چې د افغانستان خاورې ته ننوزي. فیض محمد خان هم د انګریزانو د استازي کیوناري سره ملګرو پوځیانو ته، چې وروسته به سرنیویل چمبرلین هم ورپسې وای، د افغانستان خاورې ته د ننوتلو اجازه ورنه کړه. لارډ لیټن د امیر شیرعلي خان دا حرکت د برتانیې امپراطورۍ ته سپکاوی وباله او هغه ته یې اولټیماتوم ورکړ. لارډ لیټن امیر ته لیکلي وه چې د خپل دغه عمل له کبله دې د برتانیې له امپراطورۍ څخه رسما بخښنه وغواړي. د برتانیې حکومت ته دې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اجازه ورکړي چي د افغانستان په خاوره کي دايمي استازي ولري او له هغو قبايلو سره دي غرض نه کوي چي د برتانيي له هيات سره يې د لاربښوونکو وظيفه درلودلې ده.
امير شيرعلي خان د اولتيماتوم شرايط ونه منل، او په حقيقت کي انګريزانو چنداني وخت هم ورنه کړ او د دريو خواوو يې پر افغانستان باندي يرغل پيل کړ. امير ته د وايسرا ليک د اکتوبر پر يود پرشمه ورسېدى او هغه ته يې د نومبر تر شلمي پوري وخت ورکړى وو. امير د وايسرا د ليک جواب د نومبر پر نولسمه ورکړ او هغه ته د نومبر پر يوويشتمه ورسېدى او داسي ښکاري چي د وايسرا ځيني غوښتني يې ورسره منلي هم وې، مګر مخکي له هغه چي د امير ايلچي پېښور ته ورسېږي، وايسرا ځکه پر افغانستان باندي د حملي امر ورکړ چي د ده په نزد د اولتيماتوم وخت يوه ورځ تېر سوى وو.
وايسرا پر افغانستان باندي د يرغل لپاره په هند کي تر ټولو تکړه او لايق جنرالان انتخاب کړل. لومړي ستون، د تورن جنرال رابرټس په مشرى د پيواړ کوتل او شترګردن د کوتل له لاري د کابل پر لور حرکت وکړ. دوهم ستون د ډګرجنرال ايس جي براون تر قوماندي لاندي، چي په درنو توپونو او وسلو سمبال وو، على مسجد اشغال کړ او د جلال اباد پر لور يې حرکت پيل کړ. دريم ستون د ډګر جنرال ډانلډ ستيوارټ تر قوماندي لاندي د کوټي د لاري د کندهار پر لور حرکت وکړ. انګريز مورخ ايچ جي کين ليکي چي د قواوو له ترکيب او وسلو د زياتوالي څخه ښکارېده چي وايسرا په کابل کي د انګريز استازي د نصبولو تر ځنګ نور خيالونه او پلانونه لري. Keene Vol 2 ص ص ۲۹۵-۲۹۴
نوموړى مورخ ليکي چي له بده مرغه اکثر هغه ليکونه چي په هغه وخت او يا د پوځي عملياتو په ترڅ کي د دولتي مقاماتو ترمنځ تبادله سوي او يوه بل ته لېږل سوي دي له منځه وړل سوي دي. دى وايي که هغه ليکونه موجود واى نو موږ به د هغو پېښو په باب دقيق او هر اړخيز قضاوت کولاى سواى، خو اوس مجبور يو چي په موجودو ليکونو او اطلاعاتو قناعت وکړو. هغه کتاب ص ۲۹۷
په هر صورت، اميرشېرعلي خان د تزار څخه د مرستي اخيستلو لپاره د پيترزبورګ په نيت د مزار شريف خواته روان سو ؛سردار محمديعقوب خان يې له بنده خوشي کړ او قدرت يې ور وسپاره. د انګريزانو استازى سر لويس کيوناري د ۱۸۷۹ کال د جولاى پر څلرويشتمه کابل ته ورسېدى. د هغه ډېرشان داره هرکلى وسو، مګر ايله شپږ هفتي يې تېري کړي وي چي په کابل کي د سپتمبر پر دريمه د انګريزانو پر ضد عمومي پاڅون پيل سو او کيوناري يې د خپلو ټولو ورسره ملګرو سره ووژاه او د هغه کور او مرکز يې وسوځاوه.
د روسانو لوبه او ښکاره نامردي:
اميرشېرعلي خان د خپل قدرت د لومړيو شپو ورځو څخه انګريزانو ته بدبين وو او د هغوى څخه يې د نفرت تر سرحد پوري بد راتلل؛ او دا نفرت يې تر مرګه وساتى. هغه، د يوه هوښيار امير په حيث، د انګريزانو په زور هم خبروو او د هغوى سره يې د مخامخ کېدلو څخه ځان ژغوره. هغه، د افغانستان د اوسني جغرافيايي موقعيت په څېر، د شمال، لوېديځ او ختيځ له لوري رقيبو او حتى دښمنو هيوادونو محاصره کړى وو. لوېديځ لوري ته ايران د سيستان، هرات او بادغيس د لاندي کولو او د ايران په خاوره پوري د مونښلولو خوبونه ليدل؛ چي هر شهزاده او سردار به ياغي يا مرور سو د ايران حکومت د خپلو شومو مقاصدو لپاره پناه ورکوله او د راتلونکو احتمالي دسيسو لپاره يې تنخوا ورته مقرروله. ختيځ لوري ته د برتانوي هند حکومت پروت وو چي د خپلو ستراتيژيکو مقاصدو لپاره يې هر وخت افغانستان قرباني کاوه. شمال ته د روسيي امپراطورى پرله پسي د مسلمانانو ښارونه او ملکونه لاندي کول او ګام په ګام د افغانستان پر لور را نيژدې کېدله. امير لکه د ژبي پسته غوښه د دوه دېرشو غاښونو په منځ کي ګوزاره کوله.
په دغو حساسو او سختو شرايطو کي، چي امير د سختو، داخلي او خارجي، ستونزو سره مخامخ وو، هغه ته، د کال ۱۸۷۰ د اپريل پر يوولسمه، د روسي ترکستان د ګورنرجنرال وان کوفمان ليک را ورسيدى.
اميرشېرعلي خان دي ليک يو څه وارخطا کړ او د ليک په دليل پوه نه سو، نو هغه ليک يې کټ مټ وايسرالارډ مايو ته واستاوه. که څه هم چي امير شېرعلي خان د ټولو ليکونو متنونه په کابل کي د انګريزانو استازي نواب عطامحمدخان ته ښکاره کول او هغه به کټ مټ کلکتي ته لېږل، خو انګريزانو څو کاله وروسته، دهغو ليکونو په پلمه، پر افغانستان باندي غيرعادلانه يرغل وکړ، که څه هم چي د انګريزانو اولويو قدرتونو په سياسي قاموس کي هغه يرغل عين عدالت او يا لړترلړه بد کار نه وو.
کي د روسي ترکستان د ګورنر جنرال وان کوفمان استازى جنرال د مياشتي په پاى د ۱۸۷۸ کال د جولاى ستوليتوف د ورسره هيات سره کابل ته ورسيدى.دا چي د روسيي صدراعظم او خارجه وزير وروسته د دي هيات پر اهيمت او رسميت باندي منکر دي هغه بله خبره ده خو د محمودطرزي له خاطراتو څخه، چي د هيات ښکاري چي د کابل حکومت يې درون استقبال کړى دى او د کابل خلک، هرکلى يې په خپلو سترګو ليدلى دى، ډېر زيات شمېر وګړي تماشي ته ولاړ ول. عسکري موزيکونه ږغېدل او د که هرکلي ته راوتلي نه وه، نو روسانو استازى د اميرشېرعلي خان له وررو سردارنيک محمد خان او قاضي قادرسره، چي دواړه د هغه د پيلان روان د دوى په لوى فيل پسي، دوه درې نور .پيل باندي سپاره ول استقبال د مراسمو مسولين ول، پر يوه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

ول او پر هغو باندي سرداران او عالي رتبه مقامات سپاره ول او په خورا جم و جوش د بالاحصار خواته ولاړل.
خاطرات محمود طرزي ص ص ۷۳-۷۲
کابل ته د روسي هيات د رسېدلو سره سم، په هغه شپه جنرال ستوليتوف ته د جنرال کوفمان ټلګرام ورسيدی او هغه ته يې ليکلي وه چي د افغانستان له مقاماتو سره هيڅ ډول تړون لاسليک نه کړي او هيڅ ډول ژمني ورسره ونه کړي. البته جنرال ستوليتوف د اميرشېرعلي خان سره يو، نه چنداني مهم، تړون لاسليک کړ. جنرال ستوليتوف سمدستي د تاشکند پر لور حرکت وکړ؛ جنرال راسګونوف، ډاکټر ياورسکي او څو تنه نور روسان يې، چي د هيڅ ډول قرارداد د لاسليک کولو صلاحيت يې نه درلود، په کابل کي پرېښودل.
د دې خبري علت د برلين موافقتنامه وه چي د برلين د کنفرانس په پای کي تر لاسه سوې وه. جنرال ستوليتوف د برلين د کنفرانس په جريان کي له تاشکند څخه حرکت کړی وو او د کنفرانس د پای ته رسېدلو په وخت کي په لاره کي وو؛ ځکه نو د نتيجي څخه بې خبره پاته سوی وو. په هغه کنفرانس کي، چي انګلستان، جرمني او پروس، اطريش او هنګري، فرانسي، روسيي او عثماني ترکيې برخه پکښې درلوده، او د جون له ديارلسمي څخه د جولای تر ديارلسمي پوري روان وو، په اروپا کي پر ډېرو جنجالي موضوعاتو باندي موافقي سوي وې او، د نورو موافقو ترڅنګ، روسيي دا منلې وه چي افغانستان به د برتانيي د نفوذ د ساحي په حيث پېژني او د هغه هيواد په چارو کي به هيڅ ډول مداخله نه کوي.
اميرشېرعلي خان تر پايه تاشکند ته د جنرال ستوليتوف د دې ناڅاپي ستنېدلو په علت پوه نه سو او ترمرګه يې د انګريزانو په مقابل کي د روسانو د پوځي او مالي مرستي انتظارو ايستی. په کابل کي د روسيي د باقي پاته هيات غړي، چي جنرال راسګونوف يې مشري کوله، لاس تر زني ناست ول. هغوی نه پوهېدل چي څه وکړي او د امير يوه سوال ته يې هم جواب نه سو ويلای. جنرال ستوليتوف په داسي تلوار له کابل څخه تللی وو چي ورسره روسيي هيات ته يې هم هيڅ نه وه ويلي. او جنرال راسګونوف په دې نه وو خبر چي ستوليتوف امير ته څه ويلي او څه يې نه دي ويلي. راسګونوف بالاخره امير شېرعلی خان ته مشوره ورکړه چي پخپله تزار ته يو ليک ولېږي او د مرستي غوښتنه ورڅخه وکړي. ياورسکي دوهم جلد ص ۱۸-۱۷
امير هم تزار ته ليک واستاوه او له هغه څخه يې د عاجلي مرستي غوښتنه وکړه او دغه راز يې جنرال کوفمان ته هم يو ليک واستاه او له هغه څخه يې وغوښتل چي تزار ته هغه مرستي چي له افغانستان سره يې ژمنه سوې ده ور په زړه کړي. په دغو ورځو کي وزير شاه محمد خان ته د جنرال ستوليتوف يو ليک را ورسېدی چي ډاکټر ياورسکي وايي په فارسي ژبه ليکل سوی وو؛ پر املايي او انشايي غلطيو برسېره دومره مبهم ليکل سوی وو چي نه يې د سفارت غړي او نه افغانان په مفهوم پوهېدل. هغه کتاب ص ۱۹-۱۸
جنرال ستوليتوف په هغه ليک کي ، چي په ريشتيا سره هم بې مفهومه او هم له ډيپلوماتيک ارزښته خالي وو، ويلي وه چي" ... زموږ امپراطور به له امير او له افغانستان سره هغه څه چي لازم بولي وکړي. البته تا به زما هغه خبره نه وي هېره کړي چي ويل مي پاچهی داسي ده لکه د يوه هيواد غرونه، وادي ګاني او سيندونه. څوک چي پر يوه لوی غره ناست وي تول شيان ويني. د خدای په زور، په نړی کي زموږ د امپراطور سيال نسته. خدای دي اوږد عمر ورکړي. ځکه نو تاسي بايد زموږ د حکومت مشورې ومنی. زه ريشتيا درته وايم چي زموږ حکومت لکه مار داسي هوښيار دی او لکه کوتره داسي بې آزاره دی. ډېر داسي شيان دي چي تاسي نه په پوهېږی او زموږ حکومت په پوهېږي. داسي ډېر پېښېږي چي يو کار په لومړي سر کي ښه نه ښکاري خو وروسته بيا ښه نتيجه ورکړي. نو زما مهربانه دوسته! زه تاته اطلاع درکوم چي ستاسي د مشهور مذهب دښمن غواړي چي د ترکيي د سلطان د لاري ستاسي سره سوله وکړي. ځکه نو تاسي بايد خپلو هغو ورونو ته چي د سيند پر هغه بله غاړه ژوند کوي وګوری. که خدای پر حرکت راوستل او د جنګ توري يې را واخيستلې نو يالله بسم الله، کنه نو تاسي بايد، د مار په څېر، په ښکاره سوله وکړی او په پټه د جنګ لپاره تياری وکړی؛ او کله چي خدای امر درته وکړي نو خپل نيت څر ګند کړی. دا به ستاسي په خير وي چي ستاسي د دښمن استازی غواړي ستاسي خاوري ته درسي، خو په دې شرط چي تاسي د دښمن هيواد ته داسي لايق استازی ور ولېږی چي د مار په شاني ژبه ولري او غولونکي او له شيطانته ډکي خبري يې زده وي، او په خپلو خوږو کلماتو دښمن هک پک کړي او هغه دې ته وهڅوي چي د جنګ کولو څخه لاس واخلي..." Roberts ص ۵۵۸-۵۵۷
لارډ لېټن او انګريزی حکومت د برلين په موافقتنامه او له افغانستان څخه د روسي هيات د رييس جنرال ستوليتوف د بې نتيجي ستنېدلو په موضوع ښه خبر وه خو څرنګه چي د انګلستان کابيني د شېرعلي خان د پرزولو او د افغانستان د خاوري او ښارونو د اشغالولو فيصله کړې وه، او د يوه آسيايی هيواد د پاچا را پرزول او له هغه سره ، پرته له هيڅ دليل څخه، د جنګ اعلانول او د هغه د هيواد تباه کول قانوني، مشروع او له هره اړخه روا عمل وو، نو په پاليسي کي يې هيڅ ډول تغير رانه غی. وايسرا لارډ لېټن د روسی هيات له ستنېدلو څخه څه باندي يوه مياشت وروسته وليکل چي " نه له افغانستان څخه د روسي هيات وتل او نه د روسيي د حکومت له خوا اطمينانونه دا حقيقت پټولای سي چي په کابل کي د روسيي د هيات ډېر تود هرکلی سوی دی، په داسي حال کي چي زموږ هيات ته کابل ته د ورتللو اجازه ورکړه سوې نه ده؛ او د روسيي افسرانو ته دا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

فرصت برابر سوی وو چي امير پر موږ باندي بي اعتماده، او د روسيي په قدرت باوري کړي او داسي اميدونه ورته پيدا کړي چي زموږ په مقابل کي به مرستي ورسره کوي" Balfour ص ۲۶۲
ډاکټر ياورسکي ليکي" جنرال ستوليتوف له کابل څخه د روانېدلو په وخت کي امير شېرعلي خان ته اطميان ورکړی وو چي له روسيي څخه د ديرشو زرو عسکرو سره را ستنېږي. اميرشېرعلي خان، چي جنرال ستوليتوف يي د روسيي په ځېر يوه لوی هيواد سفير باله، د هغه په خبرو باور وکړ او د هغه په مشوره يي د انګرېزانو سفير ته اجازه ورنه کړه چي کابل ته داخل سي. که زموږ وزير مختار د هغه ليک او د ګورنرجنرال له اعتماد نامي سره هغه خوش باوره امير ته ورغلی نه وای نو دغه ناولی جنګ به، چي موږ يي شاهدان يو، هيڅکله نه وای پېښ سوی" ياورسکي دوهم جلد ص ۷
په داسي شرايطو کي چي انګليسانو امير شيرعلی خان ته پرله پسي اخطارونه ورکول او د اولتيماتوم وخت پوره سوی وو، او امير د روسانو څخه د مرستي په انتظار ناست وو، جنرال کوفمان امير شېرعلي خان ته وليکل چي انګليسان غواړي له افغانستان سره دوستانه اړيکي ولري؛ د ده مشوره به هغه ته دا وي چي د هغوی شرايط ورسره قبول کړي او دوستانه اړيکي ورسره وساتي، ځکه چي هغوی ژمنه کړې ده چي د افغانستان پر خاوره به يرغل نه کوي. جنرال کوفمان افغانستان ته د پوځيانو د لېږلو څخه معذرت غوښتی وو او دا يي لا هم ويلي وه چي د وسلو منظوري نه ده ورته راغلي. جنرال کوفمان په ليک کي دا هم ليکلي وه چي خپل زوی سردار محمد يعقوب خان له بنده خوشي کړي او هغه دوستانه اړيکي چي سردار يي له انګرېزانو سره ټينګوي په نېک نظر ومني. ياورسکي ص ۱۹
د ډسامبر پر پنځه ويشتمه اميرشيرعلي خان ته د جنرال کوفمان يو ليک را ورسېدی او په هغه کی يي بيا هم ليکلي وه چي "امپراطور د برتانيي حکومت په دې قانع کړی دی چي د افغانستان د خپلواکی احترام به کوي. د انګريزانو وزيرانو په دې برخه کي ژمنه کړې ده او زه ستا څخه په جدي توګه هيله کوم چي د خپلي خاوري څخه ونه وزې. تر ممکنه حده کوښښ وکړه چي خپلي ګټي وساتي او خپلواکي له لاسه ورنه کړې. اوس حاضر د انګريزانو سره جوړه وکه. که ته نه غواړې چي په اوسنيو شرايطو کي کابل ته ولاړ سي نو خپل زوی محمد يعقوب خان ته وليکه چي ستا له هدايت سره سم د انګليسيانو سره روغه جوړه وکړي. د افغانستان څخه په اوسنيو شرايطو کي مه وزه، ځکه چي دا کار ستا په ګټه نه دی. زما خبري له حقيقته خالي نه دي، ځکه چي که ته روسيي ته راسي نو د ځان لپاره به وضع تر دې هم خرابه کړې" Roberts ص ۵۵۸
د دې څخه يوه ورځ وروسته سردار محمد يعقوب خان خپل پلار ته وليکل چي د انګريزانو پوځونو جلال اباد اشغال کړی دی. امير خپل وزير ته وکتل او وې ويل عجيبه ده له يوې خوا جنرال کوفمان ماته اطمينان راکوي چي انګليسيان په افغانستان کي مداخله نه کوي او له بلي خوا انګريزيان ګام په ګام زموږ هيواد اشغالوي. دا ضد ونقيض خبري څه معنی لري؟
داکټر ياورسکي ليکي چي" د ډسمبر پر دېرشمه امير زما سره د سوال و جواب په ترڅ کي وويل چي زړه يي د روسانو په مرستو پوري تړلی او غواړي د هغوی په کومک د خپل هيواد وضع بهتره کړي او د ډېر وخت لپاره سوله ټينګه کړي. دی وايي امير ماته وويل ښاغلي ډاکټره په دې بايد پوه سې چي که زه له انګليسيانو سره متحد سوی وای هغوی زما ډېري غوښتني منلې، او زما سره يي هر ډول مرستي کولې؛ مګر ما د هغوی پيشنهادونه رد کړل. ما غوښتل په دې توګه د ځان او د خپل هيواد آبرو، چي تاسي يي ښايي شرف او عزت نفس وبولی، خوندي کړم. زما پلار هم دغه ډول فکر کاوه او هيواد ته د انګريزانو د هره ورځ نيژدې کېدلو څخه انديښمن وو... ډاکټر ياورسکي وايي امير وروسته وويل که مي د روسيي د تزار څخه ډيره لږه بي پروايي او بي عزتي ليدلي وای، هيڅ وخت به مي هغه ته د مرستي لاس نه وای اوږد کړی. ياورسکي وايي په زړه کي مي وويل چي اې بېچاره که ته له هغو جملو څخه چي جنرال کوفمان، جنرال راسګونوف ته ليکلي وې خبر سوی وای ټول اميدونه به دې له خاورو سره خاوري سوي وای" ياورسکي ص ص ۳۰-۲۸
ياورسکي وايي يو ماښام تر ډوډی خوړلو وروسته د امير شېرعلي خان د روغتيايي حالت د ليدلو لپاره د هغه ځای ته ورغلم او سمدستي يي خبري سياست ته يوړې. ماته يي مخ راواړاوه او وې ويل" بلي انګرېزانو هر وخت زما سره د وفاداری سوګندونه کول او زما سره يي په اقتصادي او تعليمي چارو کي د مرستو وعدي کولې او دا يي لا هم ويل چي ځيني مځکي به لا هم را تسليم کړي؛ ما د هغوی وعدو ته اعتبار ورنه کړ او هغه لاس مي چي د شمال له لوري راته اوږد سوی وو ونيوی. مګر لکه څرنګه چي تر اوسه پوري مي ليدلي دي دغه د مرستي او دوستی لاس زموږ د هيواد لپاره له بربادی پرته بل هيڅ نه دي راوړي" هغه کتاب ص ۳۵
جنرال کوفمان د ډسمبر پرنهه ويشتمه، چي انګرېزي پوځونو د افغانستان په بېلو بېلو سيمو کي پوځي عمليات او جنګونه پيل کړي ول، امير ته په يوه ليک کي ويلي وه چي خارجه وزير ګورچاکوف ماته يو ټلګراف را لېږلی او په هغه کي يي ويلي دي چي امپراطور غواړي ته تاشکند ته راسې البته سينټ پيټرز بورګ ته ستا د سفر کولو په باب لا کوم هدايت نه دی را رسېدلی.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځېر و لولئ

جنرال کوفمان د ۱۸۷۹ کال د جنوري پر اووه لسمه امیر شېرعلي خان ته یو بل لیک واستاوه او ورته لیکلي یې وه چي " تا زما څخه په خپل لیک کي د پوځونو غوښتنه کړې وه خو امپراطور ستا د ستونزو په باره کي د برتانیي له حکومت سره تماس نیولی دی او په لندن کي د روسیي له سفیر سره ژمنه سوې ده چي برتانیه به د افغانستان استقلال ته هیڅ صدمه نه رسوي... ماته امپراطور هدایت کړی دی چي دا غیر ممکنه ده چي ستاسي سره پوځي مرستي وکړو. زه ستا نیکمرغي غواړم. دا ټول شیان د خدای په اراده او فرمان پوري اړه لري. دا ضروري ده چي جنرال ووزګانوف او د هغه ملګري را ولیږې؛ ډاکتر یاورسکي درسر ساتلای سي. څکه چي ډاکتر ستا او ستا د کورنۍ په درد خوري. زه هیله کوم چي زموږ دوستي به نوره هم ټینګه سي؛ او زموږ ترمنځ به مفاهمه جاري وي" Roberts ص ۵۵۹
په داسي حال کي چي د انګرېزانو یرغلګرو پوځیانو پر افغانستان باندي د دریو خواوو حملې پیل کړي، د جلال اباد او کندهار په څېر لوی ښارونه لاندي کړي؛ او د کورم د لاري یې ځانونه لوګر او د کابل دروازو ته رسولي وي، د روسي جنرال د دغه راز ملنډو او سپکاوي درد یوازي امیر شېرعلي خان احساسولای سوای، چي د اروپا له انکشافاتو او د لویو قدرتونو د لوبو څخه بېخبره وو؛ زړه یې د روسانو په مرستو پوري تړلی وو او د جنرال ایلیټ په قول له بارانه ولاړ سوی او ناوي ته کښېنستلی وو.
د جنرال کوفمان د وروستي لیک څخه څه باندي یوه میاشت وروسته د فبروري پر یوویشتمه نېټه، امیر شېرعلي خان، په داسي حال کي چي د عمر په وروستیو شپو ورځو کي یې د سختو دردونو له لاسه یوه شېبه ارام ونه کړ، د مزار شریف په ښار کي، په منتهی نا امیدي کي وفات سو. داسي ښکاري چي د هغه په رنځور کېدلو او د رنځ په زیاتېدلو کي مرموز قاضي قادرو، چي دري کاله مخکي د برتانوي هند څخه افغانستان ته راغلی او د امیر په پوست ننوتلی وو، ډېره زیاته اغېزه درلوده.
اخند غلام حیدر، چي د امیر شېرعلي خان د طبیب وظیفه یې درلوده، د امیر شېرعلي خان د ژوند په وروستیو شپېو کي د هغه د رنځ د سختېدلو په وخت کي ډاکتر یاورسکي ته وویل چي " دا ټول فساد د قاضي عبدالقادر دی. دري کاله مخکي هیڅا نه پېژاند؛ یو ناڅاپه مي د امیر په دربار کي ولیدی؛ چا راته وویل چي هغه یو هندی مسلمان دی چي د انګرېزانو له خدمت څخه تښتېدلی او د افغانستان مسلمان هیواد ته یې پناه راوړې ده. بلې همدغه مسلمان مهاجر وو چي زموږ ایماندار او مهربان ، زړه ور او خیرخواه امیر یې د ابلیس په څېر له لاري وایستی او په هغه بې علاجه بلا یې معتاد کړ چي خدای او رسول یې استعمال منع کړی دی. اخند وروسته له ډاکتر یاورسکي څخه هیله وکړه چي د ده له خولې چاته څه ونه وایي" یاورسکي ص ۶۸
ډاکتر یاورسکي د خپل کتاب په پای کي د امیر شېرعلي خان پر شخصیت باندي د تبصرې په ترڅ کي لیکي" امیرشېرعلي خان له یوې خوا سرسخت، زړه ور، د عزم خاوند او سرزوری سړی وو مګر په عین وخت کي مهربان، د نازکو احساساتو خاوند او خوش باوره سړی وو. د ژوند تر وروستیو شپېو پوري له نزاکت څخه خارج نه سو او د روسیي په دوستی او صداقت کي یې ډېر لږ شک هم ونه کړ.
باید اعتراف وکړو چي جنرال ستولیتوف، جنرال راسګونوف د روسي ترکستان د نایب الحکومه جنرال کوفمان په شمول، په لومړي سر کي امیر ته څه ډول ښه زېري ورکړل او د هغه په زړه کي یې څه ډول امیدونه پیدا کړل مګر په پای کي یې هغه دونه مایوس کړ چي هغه د دونه یوه لوی دولت څخه هیڅ وخت انتظار نه درلود.
جنرال کوفمان، قله قاضي ته د جنرال ستولیتوف د رسېدلو څخه یوه ورځ مخکی هغه ته د برلین د کنګرې د فیصلو په باب ټلګرام واستاوه او هغه پوه سو چي روسیه نور نه سي کولای په مرکزي اسیا کي خپلي نقشي عملي کړي او یا له افغانستان سره مرستي وکړي. نو ولي یې امیر ته اطلاع ورنه کړه او هغه بېچاره یې په تیاره کي پرېښود. عجیبه خو لا دا چي امیر ته یې وویل چي د انګرېزانو سفیر ونه مني خو پخپله د افغانستان د بدبختی او فلاکت تماشي ته کښېنستل. د هیات دوهم ریس جنرال راسګونوف پخپله امیر ته پیشنهاد وکړ چي پیټرزبورګ ته ولاړ سي او د روسیي له تزار سره ووینی او شخصا له هغه څخه مرسته وغواړي. امیر د هغه په مشوره د مزار پر لور حرکت وکړ او کله چي یې وغوښتل روسیي ته ولاړ سي جنرال راسګونوف ته د جنرال کوفمان لیک ورسېدی او په هغه کي یې لیکلي وه چي امیر دي روسیي ته له داخلېدلو څخه منع کړه سي" یاورسکي ص ص ۷۸-۷۷
د امیر شېرعلي خان له وفات سره سم محمدیعقوب خان، که څه هم چي مخکي یې هم ټوله اداره په لاس کي وه، په رسمي توګه پاچا سو. هغه په داسي حال کي قدرت ته ورسېدی چي د افغانستان په مرکزي حکومت کي، د انګرېزانو د زور زیاتي او دسیسو له امله، د شېرعلي خان د وخت زور او روحیه پاته نه وه او نه پخپله محمدیعقوب خان د انګرېزانو سره د مقابلې توان په ځان کي لیدی. امیرمحمدیعقوب خان، په خپله خوښه، په ګندمک کي، د انګرېزانو کمپ ته ورغی او هلته یې هغه ننګینه معاهده چي څوارلس کاله وروسته د ډیورنډ د غیرعادلانه معاهدې اساس وګرځېده، لاسلیک کړه. افغانستان د دغه تړون په وجه د پښین، سیبی او کورم په شمول ډېری زیاتي مځکي له لاسه ورکړې. دغه راز د جولای د میاشتي پر څلېرویشتمه د برتانیي استازی سرلیویس کیوناري، چي امیرشېرعلي خان تر مرګه موافقه ورسره ونه کړه، کابل ته ورسېدی. کیوناري ایله په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

کابل کي څلوېښت شپې تېرې کړې وې چي عمومي پاڅون پیل سو او کیوناري یې د ورسره انګرېزانو او نورو عسکرو سره ووژه. په نتیجه کي لارډ رابرټس د کرم او شترګردن د کوتل د لارې پر کابل باندي یرغل وکړ او یعقوب خان د اکتوبر پر دوولسمه د انګرېزي پوځ کمپ ته ورغی او خپله استعفی یې ورکړه. که څه هم چي انګرېزي جنرال د یعقوب خان استعفی منظوره نه کړه خو ده ورته وویل چي د انګرېزانو په کمپ کي به واېښه ورېږم خو د افغانستان امارت به قبول نه کړم. له انګرېزانو څخه یې غوښتنه وکړه چي په هره توګه کېږي دی ژر تر ژره هند ته واستوي.
یعقوب خان هند ته تبعید سو، خو د افغانستان هره سیمه د انګرېزی پوځونو لپاره سره تبی سوه. انګرېزانو بالاخره د وسلو، قوي پوځونو، پیسو او د سیسو په زور د افغانانو مقاومتونه وځپل خو برې یې په وړیا توګه تر لاسه نه کړ. که څه هم چي په دې جنګونو کي ډېر زیات افغانان شهیدان او ټپیان سول او ډېر زیات مالي تاوانونه ورته رسېدل خو انګرېزانو ته دا یو ځل بیا ثابته سوه چي افغانستان  د هند په څېر نورو مستعمراتو سره توپیر لري. او د دې اولسونو اېلول د غیر ممکن تر سرحده پوري ګران کار دی.
البته په هغه وخت کي هم په برتانیه کي ډېرو سیاستمدارانو، پوهانو او منورینو په افغانستان کي د برتانیې  غیرعادلانه مداخله غندله او دا یې د یوه بې غرضه او کمزوري هیواد پر سرنوشت باندي یو ناروا تېری باله. په دې لړ کي هغه اعلامیه د یادولو ده چي د برتانیې پازیټویست      Positivist ګوند یا د مثبته فلسفي طرفداري ډلي صادره کړې او د امریکاو د کانګریس په کتابخانه کي خوندي ده.
" موږ، د پازیټویستانو په حیث، په اصولو کي زموږ د هند امپراطوري محکوموو. موږ له دې امله د دې امپراطورۍ د پراختیاغوښتني ټول عملیات څکه غندو چي هم د لومړنیو جنایاتو تکرار دی او هم موږ ته آرامی او سوله نوره هم ګرانوي.
پر افغانستان باندي اوسنی یرغل تر هغو نورو یرغلونو ډېر بې منطقه او بې دلیله دی چي زموږ هندي امپراطوری وخت په وخت کړي دي. د دې یرغل لپاره، لکه د نورو دغه راز یرغلونو په څېر، لړترلږه دا پلمه هم جوړېدلای نه سي چي افغانانو دي موږ ته تاوان قدر رارسولی وي، او یا وواېو چي موږ د هغه هیواد د وضع د بهترولو لپاره یرغل کړی دی. دا یرغل د صدراعظم د هغه نظر په اساس سوی دی چي وایي موږ یوه محفوظ او خوندي سرحد ته اړتیا لرو. هند ته د لارډ کرېنبروک د لېږل کېدلو څخه دا څرګندېږي چي د برتانیې حکومت غواړي افغانستان د هند په څېر یوه مستعمره تبدیل کړي. او د اوسني حکومت مدافعین ټول وایي چي موږ پرته له خپلو ګټو بل په هیڅ شي کي ری نه وهو.
موږ دې ته تیار یو چي په عمل کي ولاړ سیاسیونو ته، چي اوسنی وضع یې د مخکنیو نسلونو له جنایتونو څخه په میراث وړې ده، ښې تنخواوې ورکړو خو په دې شرط چي دوی به هغه مخکني جنایتونه نه تکراروي او زموږ راتلونکو نسلونو او اولادونو ته به دغه راز مشکلات په میراث نه پرېږدي. په اوسنیو شرایطو کي، پر موږ باندي لازمه ده چي د خپل حکومت پر غیرعادلانه عمل او د هغو بدبینو کسانو د استدلال پر ضد خپل د اعتراض ږغ اوچت کړو چي د حکومت د دغه راز اعمالو دفاع کوي.
د دې اعلامیې له صادرولو څخه زموږ مطلب له هیڅ هغه ګوند سره لاس یو کول نه دي چي غواړي حکومت ته تاوان ورسوي. لیبرال ګوند، چي د حکومت څخه دفاع کوي، پرته له دې چي له حکومت څخه یو څه ترلاسه کړي، بل هیڅ ډول بین المللي اخلاقي معیار نه رعایتوي. موږ یوازي د پازیټویستانو په حیث، له هغو کسانو او عقایدو سره خپل آواز یوځای کوو چي پر لږو متمدنو خلکو باندي د لوېدیځ د مسیحي هیوادونو یرغلونه او تېري نه مني"
د پازیټیوستانو د ټولني په استازیتوب:
اي ایس بیسلي  E. S. Beesly

د سید جمال الدین افغاني دریځ:
سید جمال الدین افغاني په نولسمه پېړۍ کي د اسلامي نړۍ یو داسي لاربنود او مبارز وو چي له هغې زماني څخه تر اوسه پوري یې چنداني ساری نه دی لیده سوی. هغه خپل تقریبا ټول ژوند او تلاښ د نړۍ د مسلمانانو د ویښولو، یو موټي کولو او د انګرېزي استعمار پر ضد، چي ده د اسلامي نړۍ د ټولو مصیبتونو او ستونزو د اسلامي نړۍ د یوه واحد  عامل باله، مبارزې ته وقف کړی وو. هغه په دې عقیده وو چي عثماني امپراطوري، مرکز په حیث داسي تقویه سي چي د ټولو مسلمانانو د قدرت مرکز وي او د اسلام وحدت وساتلای سي. په هغو شرایطو کي د روسیې او عثماني امپراطورۍ تر منځ جنګونه روان ول؛ نو طبیعي خبره ده چي د افغاني په یې، چي له یوې خوا یې عثماني  عقیده تر هر څه مخکي باید د روسیې علاج سوی او د هغه قدرت پر ضد یو لوی  امپراطوري تهدیدوله او له بلي خوا یې په مرکزي اسیا کي پرله پسې د مسلمانانو مځکي لاندي کولې، متحد قوت ایجاد کړی وای.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

سید په هغه لیک کي چي عثماني امپراطور ته یې لیږلی دی د روسانو په مقابل کي د ټولي اسلامی نړۍ د یو ځای کېدلو او ږغ پورته کولو پیشنهاد کوي. لومړی یې د هندي مسلمانانو څخه پیل کوي او وایی چي د هغه هیواد د مسلمانانو له شته منیو څخه باید د روسانو د استبداد د نسکورولو لپاره کار واخیستل سي. سید وایی پرته له دي چي په هند کي د انګرېزانو د سیاست پر ضد کوم اقدام وکړم اویا له هغوی سره غرض ولرم، خپله ټوله توجه به د رسانو خواته واړوم. او څرنګه چي روسان د انګرېزانو هم دښمنان دي نو هغوی به هم د ده د تحریک مخه ونه نیسي، بلکه لا به مرسته هم ورسره وکړي. دی وایی وروسته نو دارالایمان افغان ته ځم او د هغه هیواد د ښارونو او کلیو خلک د روسانو پر ضد را پاروم، دی وایي بلوچستان ته ځم او د افغاني عالمانو په مرسته هلته د روسانو پر ضد تبلیغ کوم او بیا نو ترکمنان را پاڅوم. او که څوک پوښتنه وکړي چي ترکمنانو چي د روسانو څخه د خپلو ښارونو دفاع ونه کړه اوس به څه توره وکړي زما جواب به داوي چي هر قوم چي د ظالمو واکدارانو تر لاس لاندي وي هغه د خارجي یرغلګر په مقابل کي د خپلو واکمنانو او مشرانو ملاتړ نه کوي؛ ځکه یې نو هیواد د پردیو لاس ته لوېږي. ګزیده اثار سید جمال الدین ص ص ۱۱-۸

البته کله چي سید جمال الدین افغاني د نولسمي پېړۍ په اتیایمه لسیزه کي په اروپا کي د العروته الوثقی په خپرولو پیل وکړ نو تر پایه پوري یې د انګرېزانو پر ضد تبلیغات وکړل. په دي وخت کي، د دوو لویو استعماري قدرتونو، روسیي او انګرېز، په مقابل کي د سید په فکر او تاکتیک کي بشپړ تغییر لیده کیږي. دا ځل یې افغانانو ته دا توصیه وه چي له ایرانیانو سره یو سي او د هند په نیولو کي له روسانو سره مرسته وکړي. سید لیکي " د رسمي جریدو له مخي په اروپا کي د دولتونو او خصوصاً د المان د دولت مصلحت دا دی چي روسیه دی د هند د فتح کولو لپاره ټینګه او غښتلي سي... مصلحت دا دی چي د ایران او افغانستان دولتونه دي دواړه د امارت له پاره د روسیي سره متحد سي چي هر یوه ته بیلابیله ګټه ورسېږي... ګومان نه کوو او هیڅکله به یې ونه کړو چي د انګریزانو لپاره به د جګړي په ورځ نه د اروپا او نه د شرق په دولتونو، نه په هندیانو او نه د بشر د نورو اصنافو څخه کوم صنف، مرستیال او مددګار پیدا سي . ځکه چي د مځکي پر مخ به کوم داسي څوک پیدا نه سي چي د انګریز د حکومت له خوا ورته ضرر رسېدلی نه وي.

پر هند باندي د روسانو یرغل نیژدې سوی دی... که د ایران او افغانستان دولتونه په دې کي متحد سي نو د هر یوه لپاره به یکي ډېره برخه او لویه ګټه وي. بیشکه د انګریز حکومت څخه د هندیانو کرکه د روسیانو سره لویه مرسته کوي، مګر په دي لاره کي ډیر غرونه او پېچومي سته چي هغه د افغانانو او فارسیانو د دوستۍ پرته په بل څه نه وهل کیږي.

روس تر هغه وخته پوري د فارس او افغان دولتونو څخه د هند د دروازې په بیرته کولو کي مرسته نه سي غوښتلای چي تر څو پوري یې د ځان سره په اولجه او ګټه کي ملګري او ورونه نه کړي. که یې داسي ونه کړل نو فارسیان او افغانان به دواړه د روس د دې پورتني مقصد لپاره یو کلک خند او ټینګ مانع وي....نو افغانانو ته لازمه ده چي سترګي وغړوي او په یوه سم فکر او روغ عقل سره د خپلي راتلونکي برخي غم وخوري او د ایرانیانو ورونو سره اتفاق ته اقدام وکړي؛ ځکه چي د دوی ترمنځ داسي زړه بدي نسته چي د عمومي ښېګنو د اختلاف موجب سي. ځکه دوی ټول د یوې ستي راوتلي ښاخونه دي او په یوه داسي مزي سره تړل شوي دي چي هغه د ټولو نه اشرف د اسلامي دین مزی دی.

باید دوی یوه سي چي دي مخالفت ته دوام ورکول، په تیره بیا په دې وخت کي د دوی او هم د دوی د هندي مسلمانانو ورونو لپاره بد دی؛ نو فارسیانو او افغانانو ته لازم دی چي د دغه را غونډونکي مزي او د قومي نژادي رابطي مراعت وکړي او فرعي مذهبي اختلاف د اسلامي کلمي د ټیټوالي سبب ونه ګرځوي....

د افغانانو غاړه نښتي ده که په دې وخت کي هم دا فرعي اختلاف ټینګوي بلکه ورڅخه تېر دي شي او خپلي لرغوني ستي ته دي وګوري. ځکه چي له هري خوا ورځیني خطرونه چاپېرشوي دي او د فارسیانو سره د اتفاق نه پرته د خلاصون بله لاره نشته. اوس د یووالي او یو ځای کېدلو وخت دی.

افغانان کوم عذر نه لري او نه د علت او دلیل وړاندي کولو ځای پاته دی، په تېره بیا چي اوس د فارس په دولت کي د صدارت واګي د یوه داسي سړي په لاس کي دي چي د ډیر قدر، لوی شان او لوړي پوهي خاوند دی" عروته الوثقی ص ص ۲۳۲-۲۲۷

په یوه بل مضمون کي بیا هم پر ایرانیانو باندي ږغ کوي چي له نورو مسلمانانو په تیره بیا افغانانو سره لاسونه ورکړي او وایی " زه ګومان کوم چي تاسو به په هندي هیوادونو باندي د انګریزانو منګولي ښخول هېر کړي نه وي. ایا دا خبره ستاسو څخه پټه ده چي په هند کي هر مسلمان د پنجاب خواته سترګي نیولي دي او ستاسي د راتلو په انتظار دي خو په دې شرط چي له افغانانو سره یو سی....

د افغانستان پاچا امیر عبدالرحمن موږ پېژنو چي د زلمیتوب د لومړی ورځي څخه د انګریزانو سره کلکه دښمني لري او یو تربله یې داسي کیني او کرېږ خبري شته چي نه ورکېږي. بلکه وایو چي د انګلیس سره غلیمي د ټولو افغانانو په رګونو کي غورځنګونه وهي او د وینو سره یې ګډه شوي ده. نو که اوس د ایران او افغان حکومت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اتفاق راشي په ختيځ کې به د نورو اسلامي خپلونو په منځ کې يو نوی اسلامي قوت پيدا شي او په دې سره به د مسلمانانو ارواګاني ژوندی شي...

د افغانانو او د دوی د ايراني ورونو ترمنځ څه بيلتون دی؟ هر يو په خدای ج او په هغه څه ايمان راوړی دی چي محمدصلی الله عليه وسلم ورته راوړي دي. امير عبدالرحمن د هغو تجربو له مخي چي د ده لاس ته ورغلي دي، لومړنی سړی دی چي دې اتفاق ته وړاندي کيږي او مخکي کيږي. موږ شک نه لرو چي که چيري په دې راز پيښو باندي د ايران پاچا په خپلو سياحتونو کي خبر شو او په خپلو سفرونو کي يې وليدل، نو دی به هم په دې لاره کي په وړاندي کيدلو او هڅه کولو کي نيمګړتيا ونه کړي. شک نشته چي په لوی مقصد کي لومړی اقدام کوونکی په ټول عالم په تيره بيا د مسلمانانو په منځ کي د لويي پياوړتيا خاوند دی او په نيژدې وخت کي به د دې ميوه څکي" هغه کتاب ص ص ۲۰۸-۲۰۵

البته په دې برخه کي امير عبدالرحمن خان د سيد افغاني مقابل نظر لري او هغه وايي چي عثماني ترکيه، ايران او افغانستان درې اسلامي ورونه دي او بايد چي اتفاق سره وکړي او يو وخت خپل پايتختونه د اورګاډي د پټلی او ټلګراف په واسطه سره وصل کړي. دوی به په دې توګه د هندوستان پر لور د روسانو د پرله پسي پرمختګونو او تهد يد مخه ونيسي او د روسيې په مقابل کي به يو ټينګ ديوال جوړ کړي. تاج التواريخ ص ۵۱۴

امير عبدالرحمن خان نه يوازي له انګريزانو سره دښمني نه درلوده بلکه د انګريزانو سره يې خپله دوستي نه پټوله او په ځرګنده يې ويله چي انګلستان او افغانستان بايد د يوه بل له دوستی څخه ګټه پورته کړي او خپلو اولادونو او اخلافو او د انګلستان ملکي او د هغې اخلافو ته يې توصيه کوله چي دا دوستي ټينګه وساتي ځکه چي د افغانستان او هندوستان سلامتي سره تړلي دي او د دوی دواړو قوت په اتفاق او کمزوري يې په نفاق کي ده. هغه کتاب ص ۳۸۳-۳۸۲

بل ځای ليکي" د هندوستان دولت دا اختيار نه درلودی چي تر دې حده زما سره ملګرتوب وکړي او يا لکه څومره چي لازمه وه زما سره د همکاری او ملګرتوب ژمنه وکړي، او نه يې زما په دوستي باور درلود؛ او ما هم نه سو کولای چي د انګريزانو سره دوستي ځرګنده کړم؛ ځکه چي زما رعيت جاهل او متعصب خلک دي او که مي له انګريزانو سره دوستي ځرګنده کړې وای نو زه يې کافر بللم او ويل به يې چي له کفارو سره مي لاس يو کړی دی او زما سره يې مخالفت او جهاد پيل کاوه. نو زه پوهيدلم چي تر څو پوري مي خپل مملکت له دې متعصبو او ياغي کسانو څخه پاک کړی نه وي تر هغه پوري نه سم کولای چي له انګريزانو سره خپله دوستي ځرګنده کړم" هغه کتاب ص ۳۸۵

دا چي سيد جمال الدين افغاني به د انګريزانو سره د اميرعبدالرحمن د کيني او دښمنی په باره کي معلومات له کومه ترلاسه کړي وي، سړی نه پوهيږي؛ خو ټول تاريخي شواهد پر دې حقيقت باندي اتفاق سره لري چي عبدالرحمن خان تر مرګه پوري د انګريزانو دوست پاته سو يا لږترلږه په ښکاره يې دښمني ورسره ونه کړه، او حتي په ازادو قبايلو کي يې د انګريزانو سره د پښتنو دښمنانو په ځپلو کي برخه واخيستله. او د انګريزي استعمار د ستر دښمن، د هډې د ملاصاحب، ملا نجم الدين په ځپلو کي يې د ګډو پوځي عملياتو ژمنه ورسره وکړه.

په دې کی شک نسته چي سيد جمال الدين افغاني ته خپل علميت، سياسي مبارزو او عالي شخصيت دا حوصله وربخښلي او دا پراخ نظر ور په برخه کړی وو چي د انګريز او روس په څېر لويو او بېرحمو دښمنانو په مقابل کي د مسلمانانو ترمنځ د شيعه او سني په څېر مذهبي اختلافات بې اهميته وبولي او د انګريز او روسانو په مقابل کي د ټول اسلامي امت او اسلامي هيوادونو د اتحاد لپاره تبليغ وکړي؛ خو له بده مرغه چي ايران په خپل ټول تاريخ کي يوه لحظه هم له افغانانو سره د دښمنی څخه لاس نه وو اخيستی او د سيد په عصر کي يې هم دوام ورکاوه او تر نن ورځي پوري يې هم دوام ورکړی دی. تر څو چي ايران د افغانستان په مقابل کي خپلي پخوانی او اوسنی پاليسی ته دوام ورکوي د هغه سره د هيڅ دښمن په مقابل کي، اتحاد څه چي، موقتي ايتلاف امکان نه لري.

افغانانو که، په خپل تاريخ کي، يا د استقلال او يا د انتقام اخيستلو په جنګونو کي، د ايران پرخاوره حملي کړي دي، نو هغه يې هر وخت د خپلي توري په زور کړي دي او پر خپله خاوره يې د ايران د واکدارانو د ناخوالو او ظلمونو بدل اخيستی دی؛ په داسي حال کي چي ايران، هر وخت، د افغانستان د خاوري د لاندي کولو نيت درلودلی دی او پر افغانستان باندي د حملو کولو لپاره يې ، د انګريز او روس په څېر، لويو قدرتونو سره لاسونه يو کړي دي. په دې باره کي اسناد او شواهد دومره زيات دي چي يو جلا کتاب ورڅخه جوړيږي؛ خو د نموني لپاره به، د نولسمي پيړی په سر کي، د انګريز د استازي سر جان مالکم او د ايران د پاچا تر منځ د تړون درې مادې را واخلو:

دوهمه ماده-- که کوم وخت د افغانستان پاچا پر هند باندي د حملي کولو تصميم ونيوی، ځرنګه چي د هند خلک د برتانيي د اعليحضرت پاچا رعيت دي، نو ايران به يو عظيم لښکر، چي عسکري مهمات او وسلي به ورسره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

وي، افغانستان ته لېږي او هغه مملکت ( افغانستان ) به تباه کوي او خپل ټول کوښښ به کوي چې هغه هېواد( افغانستان ) سقوط وکړي او ګډ وډ سي.
دریمه ماده-- که چیري د افغانستان پاچا سولي ته حاضر سي نو د ایران شاهنشاهي دولت باید د سولي په شرایطو کي دا خبره یاده کړي چي د افغانستان پاچا بیا هیڅ وخت پر هند باندي، چي د انګلستان د پاچا قلمرو دی، د حملي خیال ونه کړي.
څلورمه ماده-- که چیري د افغانستان پاچا د فرانسي یا کوم بل هیواد په مرسته پر ایران باندي د حملي خیال ولري نو انګلستان به په خپل ټول قوت له ایران څخه دفاع کوي. محمود– محمود لومړی ټوک ص ۳۴
په افغانستان کي د زمانشاه او د هغه د ورونو او سردارانو ترمنځ جنګونه د ایران د پاچا فتحعلي شاه قاجار په تحریک او د سرجان مالکم د طلاوو په زور عملی سول او په نتیجه کي د ایران پوځونه افغانستان ته ننوتل او د شاه محمود ملاتړ یې وکړ او شاه محمود بریالی سو او شاه زمان یې ړوند کړ. هغه کتاب ص ۲۴۱
د ایران یوه آرزو دا وه چي هرات د تل لپاره د ایران خاوره وي... د ایران پاچا محمدشاه قاجار هر وخت د افغانستان د دولت د ړنګولو خیال درلود او په هر مجلس کي به یې خپل دغه نیت څرګنداوه. هغه یوازي یوه محرک ته ضرورت درلود چي دغه اقدام ته لاس واچوي. روسان د هغه تحریکولو ته حاضر ول او هر وخت به یې د ایران شاه ته ویل چي دا کار چنداني سختي نه لري. روسانو غوښتل چي په شمال کي د ایران ځیني خاوري لاندي کړي او په عوض کي د هرات په څېر ځینو ښارونو د نیولو وعده ورکړي. هغه کتاب ص ۳۴۶
په دې باره کي زیات تفصیل او د افغانستان د شمالي او ختیځو ګاونډیانو سره د ایران د دسیسو په باب د نورو ټرونونو او قراردادونو ذکرول د یوه نسبتا لنډ مضمون تر حوصلي وتلی کار دی. ایران د خپل ټول تاریخ په اوږدو کي، یوه شیبه هم، د افغانستان د اولسونو، دولتونو، ثبات او سولي او امنیت پر ضد له دسیسو څخه کرار سوی نه دی او اوس هم دوام ورکوي. دغه ګړی پر افغانستان باندي په پراخ فرهنګي یرغل لګیا دی او که چیري زمینه ورته برابره سي زه یقین لرم چي له سیاسی او پوځي یرغل څخه هم مخ نه اړوي.
سید جمال الدین افغاني، د خپلو اوږدو او سختو سیاسي مبارزو په جریان کي ډیر لږ وخت په افغانستان کي تیر کړی دی. هغه تقریبا یو کال په هرات، کندهار او غزني کي او یو کال په کابل کي پاته سو. له اسنادو او مدارکو څخه ښکاري چي په افغانستان کي یې ځکه خوري شپي نه دي تیري کړي چي د اړودوړ او رکود په زمانه کي ورته راغلی وو.
له دغه وخت څخه مخکي د سید جمال الدین افغاني د ژوند او حالاتو په باره کي موثق معلومات نه لرو؛ او څه چي په دې باره کي لیکل سوي دي زیاتره پر روایاتو او افسانو ولاړ دي. ځینو لیکوالانو لیکلي دي چي سید د امیر دوست محمد خان لوی سلاکارو، ځیني وایي چي هغه د امیر محمداعظم خان صدراعظم وو. مخزومي ص ۳۹
او ځینی وایي چي هغه حتی د امیرمحمداعظم خان په پوځ کي لوی قوماندان وو. مخزومي خو یو ځای لیکي چي د ایران د پاچا ناصرالدین شاه قاجار په کابینه کي د دفاع وزیر او د پاچا سلاکار وو. خو کله چي ناصرالدین شاه وروسته د ایران په دولت او علماوو کي د سید محبوبیت او زور ولیدی نو له هغه څخه وېرېدی او له هغه سره یې خپل سلوک ته تغییر ورکړ. سید هم د هوا خوری په پلمه له ایرانه ووت او روسیي ته ولاړ. هغه کتاب ص ۳۸
مخزومي دې خبري ته هیڅ فکر نه دی کړی چي یو سړی چي د اووه ویشتو کالو په عمر د افغانستان صدراعظم وي څرنګه د ایران په کابینه کي د دفاع وزیر کېدلای سي او بیا د هوا خوری لپاره روسیي ته ځي او هلته د روسیي له امپراطور سره ناسته ولاړه کوي او لا د روسیي غوندي یوه مستبد دیکتاتور پاچا په مخ کي د روسیي پر نظام باندي انتقادونه کوي. او هغه هیڅ نه ورته وایي. هغه کتاب ص ۳۹
مخزومي لیکي چي د برتانیي صدراعظم لارډ سالیزبوري او د خارجه چارو د پاره د دولت وزیر چرچل د سوډان د کشالي او د محمد احمد المهدي د پاڅون او ستونزي د حلولو لپاره سید جمال الدین افغاني ته مراجعه وکړه او هغه ته یې وویل چي که د سوډان د ستونزي په حلولو کي مرسته ورسره وکړي نو ده ته به د سوډان پاچهي ورکړي. سید د دوی غوښتنه ونه ومنله او په کرکه یې رد کړه. مخزومي ص ۳۵
په داسي حال کي، چي وروسته به وګورو، چي سید خو له صدراعظم سالیزبوري سره له سره کتلي نه دي او یوازي یې له چرچل سره فقط یو ځل ملاقات سوی دی. له بلي خوا له سالیزبوري سره دا صلاحیت او قدرت نه وو چي د سوډان پاچهي دي چاته وبخښي. که چیري له سالیزبوري سره د سوډان د پاچهی د بخښلو واک او طاقت موجود وای څرنګه یې هغه پاچهي داسي یوه سړي ته چي ټول عمر یې د انګرېزانو پر ضد جهاد کړی وي بخښله او څرنګه به یې اعتماد په کولای. که دا ټول ناممکنات ومنو نو بیا سید دونه ساده نه وو چي د سوډان پاچهي او سیاسي قدرت، چي په وریا توګه په لاس ورغلی وو، له لاسه ورکړي. ځکه چي هغه ته د انګرېزانو په مقابل کي د جهاد لپاره د یوه لوی اسلامي دولت واګي په لاس ورتللي او دا، مقدس هدف ته د رسېدلو په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولئ

منظور، د سید لیاره یو لوی او قوي سنګر او یو طلایی فرصت وو. د سید د ژوند په باب دا ډول مبالغې ډېرې زیاتې دي.
د افغانستان د خلکواو تاریخ په باب د سید جمال الدین افغاني د مشهور کتاب تمت البیان فی تاریخ افغان د دري ترجمې په مقدمه کې خو د سید د کورنی شجرې په باب له دومره بې احتیاطی څخه کار اخیستل سوی دی چې هیڅ منطق یې په نظر کې نه دې نیولي. د مقدمې لیکوال لیکلي دي: « سید جمال الدین ابن سید صفدر د میا مصطفی لمسی وو چې هغه د سیدعلي ترمذي رحمته الله علیه چې په پیربابا مشهور وو او په ۹۹۱ کال کې وفات سوی دی زوی وو...» تتمت البیان ص ۵
سید علي ترمذي، د عیسوي سني په اساس، په ۱۵۸۲ کال کې وفات سوی او د هغه کړوسی، سید افغاني، په ۱۸۳۸ کې، د خپل ورنیکه له وفات څخه ۲۵۶ کاله وروسته، دنیا ته راځي، چې هیڅ عقل یې نه مني.
په افغانستان کې په نولسمه پیړۍ کې لیکل سویو آثارو، عروج بارکزي ها، ګلشن امارت، پادشاهان متاخر افغانستان، تاج التواریخ او وروسته لیکل سوي سراج التواریخ کې، په افغانستان کې د سید صدارت، عالي رتبه دولتي مقاماتو او له دربار سره ډېر نیژدې والي ته ته هیڅ اشاره نه ده سوې؛ او محمودطرزي، چې د سید مخلص وو او له سید سره یې په ترکیه کې لیدنه هم سوې ده، هم دې ټکي ته اشاره نه ده کړې. او پخپله سید جمال الدین افغاني هم په افغانستان کې د اوسېدلو او یا د امیر محمداعظم خان دربار ته له راتللو څخه مخکی حالاتو په باب څه نه دي لیکلي. د افغانستان په باب له تاریخ څخه یې، چې د تتمت البیان في تاریخ افغان، په نوم یې لیکلی دی، په څرګنده ښکاري چې د امیر دوست محمدخان له خوا د هرات د فتح کېدلو او په هغه ښار کې د امیر د وفات په وخت کې سید څکه حاضر نه وو چې که حاضر وای نو په خپل تاریخ کې به یې د هرات د فتح کېدلو حالات سم لیکلي وای. سید په خپل کتاب کې د هرات حاکم سردار سلطان احمد خان د امیر دوست محمدخان خسر او کاکا بولي، په داسې حال کې چې سلطان احمدخان د امیر زوم او وراره وو( البته د عربي څخه فارسي ترجمه غلطه سوې ده او سید، په عربي متن کې، سلطان احمد خان د امیر د کاکا زوی او زوم بولي . په داسې حال کې چې وراره او زوم یې کېدی جهاني ) او دغه راز وایی چې امیر دوست محمدخان د هرات ښار ډېره موده محاصره کړ او وروسته په خپل پوځي مرکز کې وفات سو او د پوځ قوماندانانو یې پر هرات باندې د حملې امر ورکړ او له څو ورځو پسې حملو څخه وروسته یې ښار په کال ۱۲۸۰ کې فتح کړ. تتمت البیان ص ۱۴۸
په داسې حال کې چې یو خو سلطان احمدخان د امیر دوست محمدخان د کاکا زوی نه بلکه وراره وو او بل دا چې ټول تاریخونه پر دې باندې متفق دي چې امیر دوست محمدخان د هرات د فتح کولو څخه دیارلس یا څوارلس ورځې وروسته په هرات کې دننه وفات سو. احمدعلي کهزاد د نورو مورخینو د قول په تایید لیکي چې کله د هرات د فتح خبر کابل ته ورسیدی نو د شېرعلي خان زوی سردارمحمدعلي خان، چې په دغه وخت کې د کابل نایب الحکومه وو، په کابل کې د خوښی جشنونه وکړل او یوه هفته یې په ټول ښار کې څراغونه ولګول. امیر هم په هرات کې له خلکو سره ډېر په مهربانی سلوک وکړ او د هرات له فتحې څخه څوارلس ورځې وروسته په ۱۲۷۹ کال کې ، چې د ۱۸۶۳ کال د جون نهمه کېږي په هرات کې وفات سو او د خواجه عبدالله انصاري د زیارت څنګ ته خاورو ته وسپارل سو. کهزاد ص ۵۴۲
د سید له هغه لیک څخه چې په ۱۸۶۶ کال کې یې، په کابل کې د امیرمحمدافضل خان د پاچهی په وخت کې، لیکلی دی، ښکاري چې سید له دغه کال څخه پنځه کلونه مخکې، په پرله پسې توګه سفرونه کړي او په افغانستان کې نه وو. سید لیکي" اوس مې ځان د عالم له غالمغال او شروشور څخه بېغمه کړی دی. مطلب دا چې پنځه کاله د نړۍ په شاوخوا کې وګرځېدم او راز راز زحمتونه مې وګالل. د هر مذهب له پیروانو او عالمانو سره مې وکتل او د هري ډلې او هر ملت فقراء او عالمان مې ولیدل. او د هر مملکت او هر ولایت د پوهانو او مشرانو سره مې ناستې وکړې ... " ګزیده آثار ص ص ۲-۱
د دې لیک معنی دا ده چې سید باید د امیر دوست محمدخان د پاچهی په وروستیو دریو کالو کې په سفرونو پیل کړی، په بېلو بېلو هیوادونو ګرځېدلی او د هغه له وفات څخه تقریبا درې کاله وروسته افغانستان ته ستون سوی وي. په دې حساب نو په هغه وخت کې، په افغانستان کې، د سید د هر ډول اجتماعي او سیاسي فعالیت او حتی اوسېدلو احتمال له منځه ځي.
سید ته د امیرمحمداعظم خان، چې له ده سره یې د نظرتوافق هم درلود، له لیکونو څخه ښکاري چې امیر لازمه توجه نه ده ورته کړې او یا به یې نه سوای ورته کولای.
سید جمال الدین افغاني، په کابل کې د اوسیدلو په وخت کې، چې ۱۸۶۸ کال دی او لږ وخت وروسته د امیرمحمداعظم خان پاچهي پای ته رسیږي او پر ځای باندې یې امیرشېرعلی خان دوهم ځل پاچا کیږي، د افغانستان له خلکو څخه ډېره زیاته ګیله لري؛ دونه ګیله من دی چې له خدایه مرګ غواړي او مرګ د نجات یوازینی لاره بولي. نه ده معلومه چې همدغه شکایت یې د لیک په ډول امیرمحمداعظم خان ته لېږلی او که یې کوم بل لیک ور استولی دی چې امیرمحمداعظم خان یې یو لنډ جواب ورکړی دی:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

محب صادق و دوست موافقا!
رقعه محبت ترجمه شما مطالعه شد. از کمال اتحاد و موافقت مرقوم قلم خلوصیت شیم نگاشته بودید. سیادت پناه مودت نشانا! در هر حال میل خاطر بندهء درگاه پادشاه بي مثال خوشي طبيعت آن مهر سگال است. از دوري شما ملال و درخوشي شما خوشحال ميباشم. هر طور مرضی و رضای شما باشد ما خرسنديم، تکليف بر شما نامناسب. زياده چه نگارد.
داسي ښکاري چي سيد، اميرمحمداعظم خان ته ليکلي دي چي غواړي له کابل څخه پيښور ته حرکت وکړي او اميرمحمد اعظم خان، سره له هغه چي زړه يې نه غواړي سيد ته رخصت ورکوي، ځکه چي فکر کوي که يې په جبر منع کړي هسي نه خوا يې بده نه سي.
سيد سند امجدا!
رقعه ايکه به عبارات شيرين و فقرات رنگين در خصوص استرخاص سمت پشاور انشا نموده بودند، به نظر فيض منظر عطوفت بنياد بندگان ما در آمد، و حقايق مندرجه موضح شد. اين معنی را دانسته باشند که چون بندگان ما مفارقت شمارا برخود دشوار ميدانند البته نمی خواهد که تا حيات مستعار باشد في مابين صورت مباينت و مباعدت اتفاق افتد. اولا بدين واسطه حرکت شمارا به هيچ طرف رضا نمی دهد و ثانياً در صورتي که خود شما به طوع و رغبت قطع مواصلت اختيار نماييد، به ملاحظه اينکه هر گاه حرف ممانعت در ميان آيد نشود که موجب ملال خاطر محبت مظاهر گردد، اگر چنان اذان مرخصي داده شود، هر ايينه من باب اضطراري و ناچاري خواهد بود. زياده چه نگارد. گزيده آثار سيد جمال الدين افغاني ص ۵
په هغه مضمون کي چي سيد د اميرشېرعلي خان د پاچهی په زمانه کی ليکلی دی، ښکاري چي په کابل کي يې ډېر زړه تنګ دی او ليکي:
"تر ځان راتېرو دوستانو ته دي معلومه وي چي د انګريزانو طايفه مي اوروس بولي، مسلمانان مي مجوس بولي، سنيان مي رافضي او شيعه مي ناصبي بولي. د څلورګونو څيني دوستان مي وهابي بولي او د امامي شيعه ګانو ځيني طرفداران مي بابي ګڼي. الهيان مي دهري او پرهېزګاران مي فاسق او له تقوی خلاص بولي، عالمان مي جاهل او ناپوه او مومنان مي بې ايمانه ګناه کار بولي. نه مي کافران ځانته وربولي او نه مي مسلمانان د ځان بولي. له جوماته شړل سوی او له ميخانې رد سوی يم. حيران يم چي کوم طرف ته ولاړ سم. د چا لمنه ونيسم او له چا سره مخالفت وکړم؟ که يو ردوي بل به تاييدوي او که هغه تاييدوي نو د دې بل سره په جنګ بوخت يې. نه د دې طايفي څخه د تېښتي لاره لرم او نه دا سي ځای لرم چي د دې فرقې سره جګړه وکړم. د کابل په ښار کي په بالاحصار کي لاس تړلی او پښې ماتی ناست يم، او منتظريم چي له غيبه څه راته پېښېږي، او د آسمان څخه چي تل بدکاران نازوي څه راته رسيږي" هغه کتاب ص ص ۳-۲
سيد جمال الدين افغاني د اميرشېرعلي خان د بيرته پاچا کېدلو په وخت کي ځکه له نظره ولوېدی چي هغه د امير محمداعظم خان سره ډېر نيژدې اړيکي درلودل. او کله چي محمداعظم خان ، د اميرشېرعلي خان د لښکرو په مقابل کي، وروستی ماته وخوړه او له کابله ووت نو سيد هم د سردار ذوالفقار خان په کور کي دېره سو. څو ورځي وروسته يې امير شېرعلي خان ته وليکل:
اي د مومنانو اميره! د خدای ستاينه کوم چي تا غوندي يوه هوښيار سړي ته يې قدرت درکړی دی. ته پوهېږې چي ذوالفقار خان حاتم طايي نه دی او زه هم کوم ګدا نه يم چي د ده په کور کي به پروت يم... نه ته د محمداعظم خان په څېر وعده خلاف يې. زما سره د يوې ورځي وعده اوس مياشتي ته ورسېده، خو تر اوسه پوري د اوسېدلو ځای نه لرم. ته ډېر زړه ور انسان يې. که چيري پر ما باندي د کوم علت له مخي بدګومانه يې، او يا دي کوم څه ليدلي وي نو لطفاً ماته اطلاع راکړه. مېلمه پالنه څو ورځي وي، مياشتي نه وي. سړی څو ورځي مېلمه وي، وروسته بې عزته کېږي. Keddie ص ۴۸
داسي ښکاري چي اميرشېرعلي خان له سيد سره د کور او تنخوا وعده کړې وه او هغه يې پر ځای کړې نه وي. نو هغه امير ته دوه نور ليکونه وليکل، يو يې امير ته او بل يې د هغه وررور سردار محمداسلم خان ته واستاوه، او د وضع څخه يې شکايت وکړ. په دواړو ليکونوکي يې د خپلي وضعي څخه شکايت کړی او له امير څخه يې غوښتي وه چي يا کور او تنخوا ورته برابره کړي او يا رخصت ورکړي؛ ځکه چي ده په افغانستان کي خپله ټوله نغده شته مني لګولي او نور هيڅ نه لري. د امير په دربار کي د انګريزانو استازي يا وکيل د سيد ټول ليکونه تعقيب کړي او کلکتې ته يې لېږلي او د کابل روزنامچي په نوم اسنادو کي قيد دي. سردار محمد اسلم خان ته د سيد ليک، امير پر سيد باندي نور هم بدګومانه کړ او وې ويل چي دا سړی خپل شخصي اغراض لري او د افغانستان لپاره يو بشپړ خطر دی او بايد چي له افغانستان څخه وايستل سي. امر يې وکړ چي سيد دي د کندهار او هرات د لاري وايستل سی او هغه ته يې دوولس تومنه، چي د سيد د مقام لپاره ډېري لږې پيسي وې، د لاري خرڅ ورکړ. هغه کتاب ص ص ۵۰-۴۹
ګريګوريان هم د امير محمداعظم خان د يو کلن حکومت په وخت کي د سيد جمال الدين افغاني د اصلاحاتو د پروګرام يادونه کوي او وايي چي سيد د امير محمداعظم خان د سلاکار په حيث کار کاوه او هغه ته يې د يوې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

مجلي د خپرولو توصیه کړې وه. البته د امیر محمداعظم خان د پاچهی دوره ډېره لنډه وه او سید خپل د اصلاحاتو پروګرامونه وروسته امیرشېرعلي خان ته وړاندي کړل. ګریګوریان وایي چي سید، امیرشېرعلي خان ته د ښوونځیو د جوړولو او حتی د پوستي په برخه کي مشورې ورکړې؛ خو څرنګه چي سید له پخواني امیر سره ډېر نیژدې اړیکي درلودل نو شېرعلي خان اعتماد په ونه کړ او هغه یې له افغانستان څخه وتلو ته مجبور کړ. ګریګوریان ص ۸۶

ګریګوریان په افغانستان کي د امیر حبیب الله خان د عصر په اصلاحاتو او د سراج الاخبار په خپرونو کي د سید جمال الدین افغاني اثر ویني او وایي چي د سراج الاخبار موسس او مدیر محمودطرزي د سید جمال الدین افغاني د پان اسلامیزم د افکارو تر اغېزې لاندي راغلی وو. ص ۱۶۳

محمودطرزي په خپلو خاطراتو کي دې حقیقت او پر خپلو افکارو باندي د سید اغېزې ته اشاره کوي او وایي چي د پلار د توصیې سره سم استامبول ته ولاړم او اووه میاشتي مي د سید په مجلسونو کي برخه واخیستله. دی وایی علامه د عرفان یو کان وو. هر چا د خپل استعداد په اندازه له هغه څخه ګټه اخیستله. له سید سره زما دغه اووه میاشتي د اویا کالو تعلیم حیثیت درلود. د هغه پر هره جمله او عبارت باندي کتابونه لیکل کېدلای سي...

طرزي وایي زما سره دا سودا وه چي د سید د اصلي وطن په باره کي معلومات ترلاسه کړم. یوه ورځ چا د سید په مجلس کي دا خبره یاده کړه او له هغه څخه یې د وطن په باره کي پوښتنه وکړه، ځکه چي خبریالانو او د جرایدو ځښتنانو په دې باره کي چي سید اصلا د کوم ځای دی اختلاف ښکاره کړی وو. زه خوشاله سوم چي ګوندي سوال به مي حل سي. خو خبره هغسي نه سوه؛ بلکه سید دا مسله نوره هم پېچلې کړه. هغه وویل ښه دی چي افغاني مي افغاني ونه بولي، ایراني مي ایراني ونه بولي. ترکی مي د ترکي او اروپایي مي د اروپایی په حیث ونه پېژني. مګر دا جرأت به کوم پلار مړی ( فارسي عبارت پدرسوخته دی ج) وکړي چي ووایی جمال الدین د آدم او حوا له نسله نه دی؟

طرزي وایی دا خبري یې په دونه جدیت وکړې چي نور نو د مجلس غړي مجبور سول چي بحثونه بلي خواته یوسي. طرزي مقالات ص ص ۳۶۰-۳۵۹

دا لکه چي د سید جمال الدین افغاني د ژوند وروستي میاشتي وې. محمودطرزي وایی چي د سید له ناورغی څخه مخکي، د ناروغی او جراحي عملیاتو په جریان کي د وفات تر وخت پوري، هره شېبه له سید سره حاضر وو. هغه کتاب ص ۳۶۱

سید جمال الدین افغاني د استعمار پر ضد یو مبارز وو، او د انګلستان، روسیې او فرانسي، چي په هغه وخت کی یې د اسلامي نړۍ هیوادونه او نور مظلوم اولسونه لاندي کړي ول، دښمن وو. هغه د استعمار په منګولو کي د اسلامي هیوادونو د بندېدلو علت د هغوی تر منځ بې اتفاقي او له یوه بله بې خبري باله، او چي له مصر څخه نیولي، تر افغانستان او هند پوري هري سیمي ته تللی هلته یې د زوروکو غربي هیوادونو پر ضد د یوکېدلو او پاڅون تبلیغ کاوه. " د انګریزانو عسکر په مصر کي بې پروا ګرځي دي خلک وژني، مالونه یې لوټوي، مګر نور شرقیان ورونه د هغوی د وینو په بهېدلو هیڅ نه خوږېږي. بلکه هغو کسانو ته یې هم خوږ او درد نه رسېږي چي د دوی زګیروی اوري او سرې سترګي ورته ناست او په خپل مخ کي یې تر پښو لاندي آخوا دې خوا پراته ګوري" عروته الوثقی ص ۸۵

په همدغه مضمون کي وروسته لیکي" ایا د تعجب خبره نه ده چي عثمانیان په مراکش کي سفارت نه لري او نه یې مراکش په عثمانیانو کي. ایا د تعجب خبره نه ده چي عثماني دولت د افغانانو او په مشرق کي د نورو مسلمانانو سره ټینګ اړېکي او روابط نه لري. په مسلمانانو کي دا شا په شا کېدل او د یوه بل نه بېلتون او هر یو په خپل سرکېدل دومره ډېر سوي دي چي سرې په زغرده ویلای سي چي د دوی د یوه قوم په منځ کي هم ټینګ اړیکي نه دي پاته سوي..." هغه کتاب ص ۸۷

سید د ټولو استعماري قوتونو سره په یوه وخت کي جګړه کوله. هغه په حقیقت کي په دې عقیده وو چي د لویو استعماري طاقتونو تر منځ جنګ په هر صورت د نېستمنو او تر استعمار لاندي هیوادونو او اولسونو په ګټه دی. هغه په دې لاره کي صرف موقع ته کتل او د هر استعماري قوت پر ضد یې خپل تبلیغاتي زور استعمالاوه. د ۱۸۸۵ د جنوري په میاشت کي، چي د سوډان ملي مبارز او د هغه هیواد د خلکو سیاسي او روحاني مشر محمداحمد ابن عبدالله المهدي د سوډان پایتخت خرطوم ونیوی او د انګریزي استعمار او په اسلامي هیوادونو کي د مستبدو واکدارانو پر ضد یې جهاد اعلان کړ، نو د انګلستان له حکومت سره یې اندېښنه پیدا کړه. د هند لپاره د دولت وزیر راندولف چرچل د مهدي سره د خبرو کولو او سولي له مذاکراتو سره علاقه وښودله. مشهور لیکوال او ژورنالیسټ ویلفرېډ بلنټ، چي د ډېرو زیاتو عالي رتبه حکومتي مقاماتو او د اینګلینډ له سیاستمدارانو سره یې اړیکي درلودل، له سید څخه ، چي دا وخت په پاریس کي وو، وغوښتل چي لندن ته ورسي او د چرچل سره وګوري.

بلنټ وایي په دغه ورځو کي د ابراهیم په نوم یوه سړي ته د سید لیک را رسېدلی وو، او لیکلي یې وه چي که د چرچل له خبرو څخه څه جوړ نه سوه نو افغانستان ته ځي او هلته د برتانیي پر ضد ستونزې پیدا کوي. بلنټ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

وایی د ۱۸۸۵ کال د جولای په میاشت کي چرچل ماته وویل زه د افغانستان له امیر سره په سخت جنجال اخته یم او اصلا نه پوهېږم چي هغه څرنګه لوبه روانه کړې ده. زه په دې باره کي دقیقو اطلاعاتو ته ضرورت لرم. دی وایی ما چرچل ته وویل چي سید جمال الدین به له پاریس څخه را وغواړو هغه ښایي مرسته وکړای سي. بلنټ وایی ما چرچل ته وویل چي سید دلته د هر چا په تور لیست کي دی او د اینګلینډ ډېر سخت دښمن پېژندل سوی دی، او که داسي نه وي نو خبري یې زموږ په درد هم نه خوري. بلنټ د چرچل او سید په مجلس کي حاضر وو او لیکي چي سید جمال الدین افغاني چرچل ته وویل" درې علته دي چي د هند مسلمانان ستاسي څخه تر روسانو زیات نفرت لري. لومړی خو دا چي تاسي د ډهلي امپراطوري تباه کړه. دوهم دا چي تاسي ملایانو، مؤذنانو او د جوماتونو ساتونکو ته د تنخوا ورکول بند کړی دي په داسي حال کي چي روسان، په خپل اسلامي قلمرو کي، اوس هم دغو کسانو ته تنخواوي ورکوي. او دریم دا چي تاسي په خپل پوځ کي مسلمانانو ته لوړ منصبونه نه ورکوی او روسان یې ورکوي... اینګلینډ موږ ته تر روسانو زیات تاوان رسولی دی مګر روسان اوس تر اینګلینډ خطرناک دي... که روسان پنځه کاله نور په مرو کي پاته سي بیا به نه افغانستان، نه ایران، نه اناتولیه او نه هند پاته وي... تاسي باید له اسلام سره، له افغانانو، ایرانیانو، ترکانو، مصریانو او عربانو سره لاس یو کړی او روسان له مرو څخه د کسپین بحیرې ته وشړی. د مسلمانانو سره د ملګرتوب لپاره باید مصر خوشي کړی.... که په مصر کي اسلامي حکومت ټینګ وي نو مهدي تاسي ته هیڅ خطر نه پېښوي.... که روسان پنځه کاله په مرو کي پاته سي، بیا به یې چاره نا ممکنه وي. تاسي باید پر هغوی باندي د افغانستان د لاري نه بلکه له بلي خوا حمله وکړی، بیا به نو ملایان د روسانو پر ضد جهاد اعلان کړي او ستاسي سره به ملګري سي" Keddie ص ص ۲۵۱-۲۴۹

موږ ګورو چي سید فرصت ته کتل او په هر وخت کي یې د لویو غربي قدرتونو پر ضد جګړه د مظلومو اولسونو په تېره بیا اسلامی نړی په ګټه بلله. هغه که له عثماني امپراطوری څخه دفاع کوله ، هم یې مطلب د اسلامي نړۍ څخه دفاع وه؛ ځکه چي د عباسي خلافت د سقوط څخه وروسته عثماني خلافت د اسلامي نړۍ د وحدت سمبول وو.

څرنګه چي تزاري روسیې د نولسمي پېړی د دیرشمي لسیزي له وروستیو کلونو څخه په افغانستان کي فعالیتونه پیل کړي او انګرېزانو ته یې پر هند باندي د تزار د حملې وېره پیدا کړې وه؛ او تزار هم کله د فرانسي د ناپولیون، کله د ایران له قاجاریانو او کله هم په هند کي دننه د ناراضي شهزاده ګانو او نوابانو سره د برتانیي پر ضد پټ او ښکاره فعالیتونه کول نو برتانیه تر بل هر قدرت د روسیې څخه په وهم کي وه او فکر یې کاوه چي روسیه یوازینی قدرت دی چي د افغانستان یا ایران له لاري هند ته خطر پېښولای سي، نو د کابل په دربار کی یې د روسانو هر حرکت تعقیباوه. او د بلي خوا امیر شېرعلي خان، چي د انګرېزانو له زور څخه خبر وو، او لا یې ځان په قدرت کي سم ټینګ کړی نه وو، په هیڅ صورت نه غوښتل چي ځان له انګرېزانو سره مخامخ کړي، نو ځکه د سید جمال الدین افغاني لپاره، چي په هر ځای کی یې د برتانیې پر ضد ښکاره تبلیغات کول، او دا یې خپل جهاد ګڼلی وو، په افغانستان کي، او هغه هم د یوه برحال امیر په دربار کي، د اوسېدلو چنداني زمینه نه سوای برابرېدلای.

په کابل کي د انګرېزانو د استازي په یاداشتونو کي، د امیر د درباریانو له قوله، لیکل سوي دي چي سید رومي( مطلب یې سید جمال الدین افغانی دی، چي د حسیني تر څنګ یې کله رومي تخلص هم غوره کړی دی جهاني ) په زغرده امیر ته ویلي دي چي دی د تزار استازی دی او غواړي چي د افغانستان د حکومت او تزاري روسیې تر منځ اتحاد ټینګ کړي. امیر په جواب کي ورته وویل چي زه خپل ګاونډیان ښه پېژنم او د روسیې د حکومت له وضع سره ښه بلد یم. زه نور نه غواړم چي ته په دې وطن کي پاته سې. کله چي سید له امیر څخه وغوښتل چي د بخارا له لاري د وتلو اجازه ورکړي امیر د هغه پیشنهاد رد کړ او د کندهار له لاري یې د هغه د ایستل کېدلو امر وکړ. هغه کتاب ص ۵۱

روسانو یو ځل د امیر دوست محمدخان د لومړي ځل پاچهی په وروستي کال د ویتکي ویچ په نوم یو استازی د امیر دربار ته واستاوه او امیر ته یې د روسانو د حکومت له خوا د ډېرو زیاتو پوځي او مالي مرستو وعده ورکړه. که څه هم چي امیر د انګرېزانو دوستی ته ترجیح ورکوله او حتی د روس له استازي سره یې د کتلو څخه ډډه کوله، مګر انګرېزانو په کابل کي د روسانو د استازي حضور پلمه کړ او پر افغانستان باندی یې لومړی یرغل پیل کړ. همدغه خبره، د امیر شېرعلي خان په دربار کي، یوه وزیر، د روسانو د هیات ریس جنرال راسګونوف ته وکړه او په ډېر قهر یې ورته وویل چي تاسي ځلوبښت کاله مخکي پر موږ باندي یو خطرناک طوفان نازل کړ او د دوو ګاونډیو ملکونو ترمنځ مو د جنګ اور بل کړ، اوس بیا هم په خپل هغه پخواني چل ول سره غواړی چي هغه پخوانی خونړي صحنې تکرار سي او تاسي له لیري ننداره وکړی. خو جنرال راسګونوف چوپه خوله پاته وو او هیڅ یې نه سو ویلای. یاورسکي ص ۲۰

امیر شېرعلي خان هم دونه ساده نه وو چي په لوی لاس یې ځان د روسانو دام ته غورځولی او خپل هیواد یې د جنګ لمبو ته سپارلی وای، خو لکه څرنګه چي جنرال رابرټس پخپله اعتراف کوي چي انګرېزانو هغه مجبور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کړ چي ځان د روسانو لمنې ته وغورځوي. البته روسانو يو ځل بيا هغه خپله پخوانی نامردي تکرار کړه، او د تنګسي په وخت کي پر شا سول. " اميرشېرعلي خان په يوه خصوصي مجلس کي جنرال راسکونوف ته وويل چي لومړی ځل چي جنرال ستوليتوف په کابل کي په خصوصي ډول ماته راغی او زموږ ترمنځ پټي خبري پيل سوې نو ما خپل لاس ور اوږد کړ او د زړه له اخلاصه مي پوښتنه ورڅخه وکړه چي راسه حقيقت راته ووايه! آيا تاسي به لکه ويتکيويچ چي اوه ځلويښت کاله مخکی زموږ هيواد ته راغلی وو او چي د جنګ اور يي بل کړ نو په خپله مخه ولاړ هغسي سلوک وکړی کنه. هغه زما لاس ټينګ کړ او راته وي ويل چي زه راغلی يم او وظيفه لرم چي د استعمار د قواوو په مقابل کي ستاسي د هيواد او ستاسي د خودمختاری ملاتړ وکړم. اوس د هغي مرستي او ملاتړ نتيجه معلومه سوه. بلي موږ ته ثابته سوه چي پر افغانستان باندي دوهم ځل استعماري قواوو بېرحمانه يرغل وکړ او دا د روسيې د مقتدر تزاري دولت د استازو د وعدو نتيجه وه" هغه کتاب ص ۴۱ موږ د شلمي پېړی په پای کي وليدل چي روسانو له خپلو کمونيستو ملګرو سره، چي ګوند يي د هغوی په ملاتړ تاسيس کړی او کودتا يي د هغوی په ملاتړ وکړه څرنګه، د ضرورت په وخت کي، له خپلو ملګرو کمونيستانو او د افغانستان سره نامردي وکړه او څرنګه يي حتی خپل ملګري د قوي غليمانو لمنې ته واچول او يوه ورخ يي دفاع ورڅخه ونه کړه . البته د روسانو دا لوبه اوس هم جاري ده او د جهاد ځينو لويو مشرانو هم د شوروي اتحاد پر ضد د جهاد په کلونو کي له هغوی سره پټي دسيسي کولي او هم اوس په پټو دسيسو ورسره لګيا دي. دا چي سبا به څه پېښيږي هغه د سبا خبري دي خو دونه ويلای سو چي د افغانستان ټول تاريخ، چي د غم لړلو پېښو يوه نه شلېدونکي لړی ده، ښودلي ده چي د افغانستان جوړول يوازي د افغانانو کار دی او پر پرديو قوتونو باندي بشپړه او دايمي تکيه د افغانستان د ملت کېدلو، پرمخ تللو او يو موټی کېدلو مخه نيسي. افغانان که غواړي چي د پخوا په څېر ستر ملت سي او خلک په ريښتيا هم د آسيا د زړه په سترګه ورته وګوري نو دا کار يوازي د خپل مټ او بازو په زور کولای سي. له پرديو سره اتحادونه يوازي د موقت وخت لپاره کار ورکولای سي او د هغو نتيجه هم چنداني يقيني نه وي.

## ماءخذونه:


۱: افغاني، سيد جمال الدين. العروته الوثقی. کابل پښتو ټولنه ۱۳۵۵
۲: افغاني، سيد جمال الدين. تتمت البيان في تاريخ افغان. ترجمه محمدامين خوګياني. کابل
۳: افغاني سيد جمال الدين. تمت البيان في تاريخ افغان ( عربی). الطبعته الاولي بمطبعته الموسوعات باب الخلق بمصر ۱۳۰۸ ه ق ۱۹۰۱
۴: مخزومي، محمدباشاه. د افغاني سيد جمال الدين خاطرات او په هغو کي په مجمله توګه د ده افکار او آراء. د محمدشاه ارشاد ترجمه کابل ۱۳۵۲
۵: طرزي، محمود. خاطرات محمود طرزي. ګرد آورنده ډاکټر روان فرهادي، نشرات وزارت خارجه. ۱۳۸۹
۶: ډاکټر ياورسکي، جي. ايل. سفارت روسيه تزاري به دربار امير شېرعلي خان. مترجم ازلسان جرمني، عبدالغفور برېښنا. کابل ۱۸۸۰
۷: ګزيده آثار سيد جمال الدين افغانی. ګرد آورنده دوکتور سيد مخدوم رهين. کابل ۱۳۵۵
۸: محمود محمود، تاريخ روابط سياسی ايران وانګليس درقرن ۱۹ چاپ چهارم ۱۳۵۳
۹: کهزاد، احمدعلي. بالاحصار کابل و پيش آمد های تاريخي. چاپ دوم ۱۳۷۸، مرکز نشراتي ميوند کابل.
۱۰: امير عبدالرحمن خان، تاج التواريخ. مرکز نشراتي ميوند. ميزان سال ۱۳۷۵
11: Sykes, Sir Percy. A History of Afghanistan 1940 London
12: Roberts, Lord. Forty One Years in India. 1898 London
13: Balfour, Lady Betty. Lord Lytton’s Indian Administration 1876-80
14: Rawlinson, Major-Gen. Sir Henry. England and Russia in the East. Karachi 1980
15: Duke of Argyll. The Eastern Question. Volume 2
16: Keddie, Nikki R. Sayyid Jamaluddin Al Afghani. A political Biography. University of California Press 1972
17: Scanlon, John. Very Foreign Affairs. Great Britain 1938
18: Daniel, Norman. Islam Europe and Empire. Edinburgh University 1966
19: Marvin, Charles. The Russians Advance towards India. Reprinted by Printing Press. 1984 Shirikat Lahore
20: Frazer, Robert W. British India. First Published 1896 New York.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

21: Keene, H.G History of India From the Earliest Times to the Twentieth Century Volume 2 First Published 1915. Reprint 1990 India
22: Bilgrami, Asghar H. Afghanistan and British India ( 1793-1907) Published 1972 New Delhi
23: Gregorian, Vartan. The Emergence of Modern Afghanistan. 1969 Stanford University Press.
24 : Causes of the Afghan War. Being a Selection of the Papers Laid Before Parliament with a Connection Narrative and Comment. London Chatto and Windus, Piccadilly 1879
۲۵ :طرزي، محمود. مقالات محمودطرزي. ګردآورنده: ډاکټرعبدالغفور روان فرهادي. ۱۳۸۷ انتشارات انستیتوت ډپلوماسي وزارت امور خارجه افغانستان .

## ضمیمه:

د سید جمال الدین افغاني د ناروغی د علت په باب هغه نکل چي محمودطرزي پخپله د سید له خولې اورېدلی دی. سید وویل :

»یوه ورځ، د ورځني عادت سره سم، په بګۍ کي، د کاغذ خانه په نوم درې ته تللی وم. شپه تیاره سوې وه چي ګاډۍ زموږد کورمخي ته ودرېده. کله چي له ګاډۍ څخه را کښته سوم ومي لیده چي د دروازې یوې خواته یو جسم لکه پیچلی شی پروت دی .

مزدور ته مي امر وکړ چي هغه لوی بنډل وګوري څشي دی؟ مګر هغه بنډل نه بلکه یو انسان وو او ږغ یې وکړ چي ښاغلی سید! زه رضا کرماني یم! د فلج په ناروغي اخته سوی یم. نن دغه ښار ته راغلم او ایله دونه مي وکړه چي د یوه مزدور په شا مي ځان تر دغه ځایه را ورساوه .

کله چي مي د هغه ږغ واورېدی په هغه ګړي مي وپېژندی. مزدور ته مي امر وکړ چي هغه کورته ننه باسي. د هغې شپې په سبا مي له یوه لیک سره یوې انګرېزی شفاخانې ته، چي په بیک اوغلي کي وه، واستاوه. پنځه لس ورځي وروسته په همدغه صالون کي ناست وم چي رضا پر خپلو پښو راغی، جګ جوړ وو او سلام یې وکړ. حیران سوم او پوښتنه مي ورڅخه وکړه چي رضا څرنګه یې؟

ویل یې ستاسي د دعا او همت له برکته شکر دی جوړ یم. ښه علاج مي وسو او اوس دا دی خدای په امانی لپاره راغلی یم. ماویل څه وایې؟ وطن ته د تللو نیت لرې. ویل یې هو .

ما ته د رضا طبیعت او مزاج را معلوم وو او پوهېدم چي څوک یې ستنولای نه سي. ورته ټینګ نه سوم او رخصت مي کړ. خدای په اماني یې وکړه. بیا نو خبر نه سوم چي څه سو. له دې پیښي څخه یو څه وخت تېر سو؛ چي یو ناڅاپه په ټوله نړۍ کي د اعلیحضرت ناصرالدین شاه د وژل کېدلو خبر لکه زلزله خپور سو او ویل کېدله چي رضا کرماني ویشتلی او وژلی دی. د اېران شاه د شاه عبدالعظیم په زیارت کي رضا کرماني ویشتلی وو .

کله چي له تهران څخه په ترکیه کي د ایران سفارت ته دا خبر ورسېدی نو د ایران بې عقل سفیر په هغه ګړي په ګاډۍ کي سپور سو او د ترکي مقاماتو پر خوا روان سو. مګر رضای کرماني د شاه پر سینه باندي د ګولې د وار کولو په وخت کي ویلي وه چي واخله دا هم د سید جمال الدین افغاني انتقام. ښه نو! رضا کرماني خو دا خبره وکړه نو د سید جمال الدین افغاني څه ګناه ده؟ بالاخره د ایران بې عقل سفیر له اعلیحضرت سلطان عبدالحمید څخه په ډېر ټینګار د ملاقات غوښتنه وکړه او کله چي د سلطان حضور ته ورغی خپله خولۍ یې له مځکي ویشتلې وه او په ډېر غمګین آواز یې پېښه ورته بیان کړې او زه یې د شاه په قتلولو تورن کړی وم. عجبه لا دا چي له سلطان څخه یې په ډېر ټینګار غوښتنه کړې وه چي ما د اېران سفارت ته وسپاري .

واه واه! ته دې بې عقلۍ ته وګوره!! سلطان عبدالحمید خان، چي یو هوښیار سړی وو، په زړه کي یې د سفیر پر دې بې عقلۍ خندلي وه او سفیر ته یې ویلي وه چي یو څه له عقل او منطق څخه کار واخلي :

ښاغلی سفیر! یو څه له حوصلې څخه کار واخلی. زه په دې غمجنه پېښه تر تا ډېر غمجن سوی یم. مګر دا امکان نه لري چي زه دي یو سړی چي په استانبول کي ژوند کوي او شاه په تهران کي وفات سوی وي د قاتل په نوم تاسو ته وسپارم .

څرنګه چي سفیر دا منطقي جواب ردولای نه سوای نو بله چاره یې نه درلوده؛ خولۍ یې پر سر کړه او په ګاډۍ کي سپور سو. مګر څرنګه چي سلطان هم بې زړه سړی وو نو واهمه یې زیاته سوه. زما رقیب ابوالهدی ته هم ښه فرصت په لاس ورغی او د سلطان فکر یې، چي خدایی هم په تزلزل کي وو، زما په باب خراب کړ او راته بدګومانه یې کړ. نتیجه دا سوه چي زما د کور پر شاوخوا یې پیرې راته ودرولې او خفیه پولیسو مي ټول حرکات


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځارل. دې دوړخي پوليسو يو څه وخت تعقيبولم. په دې وخت کي يوه بله پېښه هم وسوه، چي زما د ځارل کېدلو کار يې نور هم سخت کړ. په دې شپو ورځو کي د مصر خديو )حکمران( جناب پرنس حلمي پاشا استانبول ته راغلی وو. څرنګه چي ما له هغه سره له ډېره وخته پېژندل او يو څه وخت يې پر ما سبق هم ويلی وو نو زما سره يې د ليدلو غوښتنه وکړه. څرنګه چي په عبدالحميد خاني کي دا ډول ملاقاتونه د سلطان له اجازې پرته ممکن نه وه نو له شاهانه حضور څخه يې زما سره د ملاقات کولو اجازه وغوښتله. سلطان اجازه ورنه کړه . مګر يوه ورځ زه تصادفا هواخورۍ ته وتلی وم او خديو هم هغي سيمي ته تللی وو نو موږ سره مخامخ سولو او تقريبا نيم ساعت مو خبري سره وکړې. د دې ملاقات نتيجه دا سوه چي د خفيه پوليسو شمېر زيات سو او خبره د خفيه پوليسو څخه ژندارم او ښکاره پوليسو او تعقيب ته ورسېده. څرنګه چي دا ډول تعقيبونه زيات سول نو د ډېر روحی فشار په وجه مي د زياتو سګرټو څکولو ته مخه کړه. سګرټ څکول مي دونه زيات کړل چي په ورځ کي مي يوه انګرېزی لويه قطی سيګار نه بسېدل. هر څونه چي د پوليسو فشار زياتېدی په هغه اندازه زما سګرټ هم ورسره زياتېدل. بالاخره خبره دې ځای ورسېده چي دا توهين او خواري مي زغملای نه سوای او د انګرېز سفارتخاني ته مي پناه يووړه. لس ورځي په سفارت کي پاته سوم. سلطان د دې کار زغم نه درلود او وزيران او د دربار نيژدې کسان يې را پسي را ولېږل او تر ډېرو زياتو وعدو وروسته يې په دې رضا کړم چي د انګرېز له سفارت څخه را ووزم او دوی به نور پر ما باندي د خفيه او ښکاره پوليسو پيرې نه دروي.مګر ما د دغه غم او فشار له امله دونه سګرټ څکولي وه چي په دغه مرض يې مبتلا کړم .

+++

دا هغه بيانونه دي چي ما پخپله د سيد جمال الدين افغاني له خولي اورېدلي دي. د حضرت سيد د مرګ علت سرطان وو چي د لاندنی زامي په پای کي ورته پيدا سوی وو. دا ناروغي ډېره خطرناکه وه. که څه هم چي جناب سيد په لومړيو شپو ورځو کي له درد څخه ډېر شکايت نه کاوه او مخلصان او شاګردان يې هم چنداني په خبر نه ول مګر کرار کرار يې درد او رنځ دونه زيات سو چي چا به ورته وکتل د سيد له څېري څخه درد او ناروغي له ورايه ورته معلومېدله. تر يو وخته پوري يې ډاکټر ته هم څه نه وه ويلي مګر د سفارت څخه له را وتلو وروسته ناروغی زور واخيستی. کله چي ډاکټرانو معاينه کړ نو ناروغي يې تشخيص کړه او ټولو د عمليات توصيه وکړه. د سيد ټولو مخلصانو او دوستانو هغه ته دغه سلا ورکړه چي عمليات دي په اروپا کي وسي .
د سلطان څخه يې اروپا ته د تللو اجازه وغوښتله.چا چي اعليحضرت سلطان عبدالحميد ليدلی وو او د هغه طبيعت ورته معلوم وو نو پوهېدل چي دا اجازه به ورنه کړي. بلې! اجازه يې ورنه کړه. هغه ماهر ښکاري دا لاسته راوړی ښکار کله په دونه اساني له لاسه ورکاوه .
کله چي اعليحضرت سلطان د سيد له خطرناکي ناروغی څخه خبر سو نو ګواکي ډېر غمګين سو او په هغه ورځ يې د سيد د زړه د تسل لپاره د خپل دربار درې تنه ډېر نيژدې کسان ورته را ولېږل. هغوی ته يې، د سيد لپاره، ډېري زياتي پيسي هم ورکړي وې او ورته ويلي يې وه چي تر ټولو مشهور او لايق ډاکټران ورته استخدام کړي .
په ريښتيا چي د عمليات ورځ، د سيد د شاګردانو او مخلصانو لپاره، ډېره سخته وه. هر څوک د غم په درياب کي ډوب وو او د عمليات نتيجې ته منتظر وو.عمليات دوه ساعته ونيول، چي پر مخلصانو باندي يې د دوو کلونو په څېر تېر سول او بالاخره ډاکټرانو زېری وکړ چي عمليات په خير او کاميابي سرته ورسېدل. د عمليات په جريان کي يې له سيد څخه دوولس غاښه او د لاندنی زامي يوه برخه ليري کړه. درې ورځي هغه ته د ورتللو اجازه نه وه او درې ورځي وروسته ځيني دوستان ورته راغلل. له دوو سترګو پرته يې نور ټول مخ په پلاسترانو کي پټ وو. يوه هفته وروسته يې هغه پلاسترونه ورځخه ليري کړل او تر هغه يوه هفته وروسته سيد داسي ښکارېدی لکه د ناروغی آثار چي ببخي له منځه تللي وي .
مګر په ډېر افسوس بايد ووايم چي ناروغي ختمه نه سوه. لس يوولس ورځي وروسته ناروغي بيرته نوې سوه . دوې درې ورځي به ښه وو بيرته به ناروغی زور ورباندي وکړ .ډاکټرانو فيصله وکړه چي بايد دوهم ځل عمليات وسي. دا ځل يې نيمه ژبه ورځخه پرې کړه. نتيجه دا سوه چي د دوهم عمليات په دريمه څلورمه ورځ د سيد عمر پای ته ورسېدی. د حکمت او عرفان يو نايابه او قيمتي خزانه تر خاورو لاندی سوه. د علامه د ناروغی او وفات په باب زما معلومات همدومره وه چي ومي ليکل .
مقالات محمود طرزي ص ص ۳۶۵-۳۶۱


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ